
# احتمالوالي شميرنه



ليکونکی: برينکمن(له برينکمن ن ج څخه)

ژباړونکی. ډاکټر [illegible]خان ([illegible]یری) [illegible]نواری

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې هيله، چې په دې ليکنو او ژباړو به مې زموږ د بې وزلي او له پوهې پاتې ملت - په ما د پوهنې لپاره د لګښت - لپاره د پوهنې په لور داسې لږ ونډه اخستې وي.

# د کتاب پېژند


د کتاب نوم        احتمالوالي شميرنه

ليکونکی:        پروفيسر برينکمن

ژباړی :        ډاکتر ماخان ميرزي شينواری

shinwari@Hotmail.de

د خپريدو لړۍ

خپرندوی :        د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

جرمني

چاپ نېټه        جولای ۲۰۱۲

چاپځای   دانش کتابتون


د چاپ حقوق خپرندوي ټولنې ليکونکي يا ژباړي سره خوندي دي.

پښتو مو ژبه او شميرپوهنه پرې ساده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپرندوی ټولنې یادښت

له هغې مودې را په دې خوا، چې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د علمي، ساینسي او طبي اثرو د خپرولو لړۍ پیل کړې، تراوسه یې په دې لړ کې مهم اثار خپلو هیواولو ته وړاندې کړې دي.

موږ باور لرو، چې پښتو ژبه هغه وخت په یوه مهمه غني ژبه بدلیدلای شي، چې د پوهې په ګانه سمبال شي او په علمي او اکاډمیکو اثارو غني شي.

اوس چې زموږ ملي سراسري ژبه د بیلابیلوګواښونو او چلنجونو سره مخامخ ده، پر موږ ټولو ده، چې د دغه ګواښونو په وړاندې به په نره ودرېږو او د علم او قلم په ژبه به ځواب ورته ووایو.

د اتحادیې له حوا د ډاکتر ماخان شینواري تراوسه زیاتو چاپ شویو اثارو په څنګ کې، د ده د پنځه وېښت شمیر پوهني نویو ژباړو او لیکنو او دوه ټولنیزو لیکنو تر منځ، دغه اثر په همدې لړ کې ځکه د ارزښت وړ دی، چې د علمي، ساینسي اثارو د خپراوي په لړ کې د یوه مهم ګام په توګه ګڼل کیدای شي او هیله ده، چې د دې برخې مینه وال لوستوال، زده کوونکي او د پوهنتو زده کړې کټه ترې واخستلی شي.

په درناوي

د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

۲۰۰۱۲ ز ک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژباړې مننه

د هر څه له مخه د هغو ليکونکو پروفيسرانو څخه زياته مننه، چې د ليکنو څخه يې زما د ژباړې لپاره تفاهم لرې. ماته د دوې د ليکنو د ژباړې په هيڅ ډول مادي ګټه نه شته او دا کار مې يوازې په يوه د پوهنې توانمندې ، مګر وروسته پاتې ژبې ويونکې ولس ته وړاندې دی، دا دې د دې پروفيسرانو له خوا په پوهنيزه اړخ کې زموږ په دې اړخ کې هم مرستې ته اړ ولس سره مرسته وي.

همدا ډول زموږ،، د افغانسان کلتورې ودې ټولنه،، جرمنې، د غړو، مرستندويانو او په تيره بيا د مشر تابه څخه زياته مننه کوم، چې پرته له خپرندوې ټولنې په توګه يې د دې ليکنو زياته اقتصادي ونډه هم په غاړه اخستې.

دې لاندې زما کليوالو ملګرو او ملګرو د دې کتابونو په چاپ کې د توان سره سمه اقتصادي ونډه اخستې، چې زه ترې زياته مننه کوم:

د ښاغلي ډپلوم انجنير ريحان الدين حساس، ښاغلي ډپلوم انجنير محمد اکبر نور، ښاغلی ډاکتر سردار ګانه وال، ښاغلی ډاکترماڼوګل ګانه وال، ښاغلي ټولنپوه محمدعارف بيان، ښاغلي ډپلوم انجنيرمحمد ايوب بيان، همداسې زما د ملګري اروابناد ډاکتر حاجي محمد سلطانزي د ځوي ښاغلي ډاکتر صالح محمد سلطانزي ، ډپلوم انجنير او ډپلوم اقتصاد پوه رحمت الله فتحي او نه اخر زما د لور ډاکتر څانګې شينواري او زما د ځوي اقتصاد پوه او ټولنساپوه اباسين شينواري.

نه د ټولو په اخر کې زما له ميرمن ښاپېرۍ څخه ډېره زياته مننه، چې زما د ليکنو- نه دا چې مخه يې نه ده نيولې- پوره ملاتړ کړي.

بيا هم له دوي څخه د زړه له کومې مننه کوم او لوي څښتن دې ورته اجرونه ورکړي، چې داسې مرستو ته دوام ورکړي.

په مننه : ستاسو ماخان شينواری

جرمني د بن ښار

۲۰۱۲ ز ک نيوليک

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولیک

احتمالوالي شميرنه ۱
تصادفي يا توکلي پيښې ۱
تصادفي يا توکلي تجربې ۲
د يوه سترګيز يا سترګيز مکعب غورځول ۲
ډېرپريزه تصادفي تجربې ۴
دويم: په احتمالوالي شميرنه کې پيښې ۱۳
دريم: په احتمالوالي شميرنه کې د پيښو تړنه ۱۸
د ډېريو يا سټونو A او B ټولنه يا اتحاد ۲۱
د دوه ډېريو A او B کمپنت -ياکمونډېرۍ (باقي سټ) ۲۲
ټولو پيښو ته بيلګې ۲۲
څلورم: د نسبي ډېروالي څخه و احتمالوالي ته ۳۲
نسبي ډېروالی ۳۲
د احتمالوالي تعريف: ۳۳
د لاپلاس تجربه ۴۰
پنځم - دډېرپوړيز تصادفي ازماېښتونو احتمالوالی ۵۷
شپږ م – په احتمالوالي شميرنه کې د مرتبان مودل ۸۰
**د مرتبان مودل** ۸۰
اوم - د تړلو پيښو سره احتمالوالی ۸۶
اتم - شرطيز احتمالوالی ۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| د پيښنو خپلواکوالی | ۱۰۰ |
| نهم - د احتمالواليو تاکنه د ګڼلو(شميرلو) .... | ۱۳۳ |
| د مرتبان مودل سره مودل کول | ۱۴۲ |
| لسم – تصادفي واريابلې، احتمالوالي ..... | ۱۷۷ |
| توکلي متحولې يا تصادفي متحوله...... | ۱۷۹ |
| د احتمالوالي وېشنه يا ښه يې توته ..... | ۱۸۹ |
| د احتمالوالي وېشنه يا په برخو توته کونه: | ۱۸۱ |
| د يوه احتمالوالي برختوته ونې انتظارارزښت | ۱۸۲ |
| د X د انتظار ارزښت | ۱۸۴ |
| يوولسم - د برنولي – ازماېښت | ۲۲۱ |
| د يوه تار لباره دk برياوو سره احتمالوالی | ۲۲۴ |
| دولسم - انتظار ارزښت | |
| او معيارې په ځنګ کيدني | ۲۷۶ |
| بينوميال وېشل شوې تصادفي لويه | ۲۷۶ |
| **ديارلسم: د چاپيريال احتمالوالی** | **۲۸۳** |
| څوارلسم - د بينوميالوېشنې اپروکسميشن | ۲۹۲ |
| د نورمالوېشني يا - پاشنې له لارې | ۲۹۲ |
| پنځلسم - چاپيريال احتمالوالي شميرنه | ۲۹۸ |
| شپاړسم:د هيوپوتيزې ازماېښت | ۳۰۶ |
| اووه لسم – هيپوتيزې ازمايښت ته بنستونه | ۳۳۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



جدول ارزښتونه ۳۷۳

د نورمالېږوتېه كونې تصادفي متحولې ۳۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژباړي سريزه

ګرانو لوستونکو!

د برينکمن د ليکنو لړۍ د شميرپوهنې په څانګه کې د ښوونځيو لپاره له درې لومړنيو کتابونو پرته نوره هم پسې غزېدلې، چې ما هغه د ګرانو لوستونکو لپاره رازباړلې.

دا احصايه يا ستاتيستک دی او د احتمالوالي شميرنه ده. دا دواړه کتابونه، چې دلته يې تاسو ته ژباړه وړاندېکيږي، هم په زياتو تمرينونو، اود دوی په اوبيونو يا حلونو سره سمبال ده.

زما په اند، داسې ليکنه په پښتو کې د لومړي ځل لپاره کيږي، چې نومه ونې به دلته هم څه ناڅه ګرانو لوستونوکو ته نابلدې وي، خو پرې پوهيدنه شونې ده. هر څه په روښانه توګه ورکړل شوي.

ګرانو هيوادوالو!

داچې ما يوځای يا نوره هم ښه په يوه وار ډېر کار را ونيوه، يعنې يوځای د ډېرو کتابونو ليکنه او ژباړه پيل کړه، نو هرومرو به ناتيکاوي زما له خوا په کې رامنځ ته شوې وي، خو دا به داسې ناتيکاوي نه وي، چې شميرپوهنيزې ستونځې رامنځ ته کړي. له دې کبله له تاسو څخه زما په ستونځو پوهيدلو له امله زياته مننه.

په دې هيله ، چې زما په غوښتنو او ستونځو به و پوهيږي په دې ليکنو او ژباړه کې ما ته هيڅ مادي ګټه نه شته. دا دې په ما زموږ د بې وزلي ولس د ډېر مصرف(لګښت) په هکله د يوې کوچنۍ پيرزوېنې په حيث وړاندې وي

له هر څه د مخه د دې لکچرونو ليکنو ليکونکو شميرپوهانو څخه زياته مننه، چې کتابونه به يې د افغانستان زده کړو لپاره هم د شمير پوهنې په څانګه کې پوره مرسته وي.

په همدې ډول په المان کې د افغانستان کلتوري وړدې ټولنې څخه هم زياته مننه، چې له خوا يې او په ډېر لګښت د ا کتابونه چاپيږي.

ستاسو ماخان ،، ميرۍ،، شينواری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احتمالوالی شمیرنه

## لومړی- . توکلي یا تصادفي تجربه

احتمالوالي شمیرنه :

د بختلوبو سره د د مشغولیت ځخه د احتمالوالی تیوري وده وکړه. نن هم د اختمالوالي پوهیدنه په بختلوبو کې کارول کیږي. د بختلوبو ته ورته په طبیعي علومو، اقتصاد، ټولنیزو علومو پیښیدني وړاندوییني او پلانکوني متودونه د تصادفونو په واک کې دي. د احتمالوالي شمیرنې دنده په دې کې ده، چې پیښې تز ځیړنې لاندې ونیسي د تصادفي پیښیدو( وتون ) سره چې د ممکنه قانونمندۍ سره دا وړاندوییني د ممکنه حلونو رامنځ ته کیدو ته ورسوي.

## تصادفي- یا توکلي تجربه

د دانې(شپږسترګۍ) یا د لوبو مکعب غورځولو سترګۍعدد( -ګڼ) د تصادف یا توکل په واک کې دی. دا دانه او هر بل د بختلوبې په خوښه زیات واره تکرار کیدونکي عملیې دي، چې د هغو سره د سترګیو عدد د مخه نه شی اټکل کیدی. داسي تجربې تصادفي تجربې بلل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصادفي-توکلي تحربې:

یوه تصادفي تجربه یوه تجربه ده د لاندې خویونو( خواصو) سره:

- د برابرو شرایطو لاندې په خوښه زیات تکرارور ده.

- لږ تر لږه دوه ممکنې پایلې ( لاس ته راوړنې) شتون لري.

- پایله مخ له مخه کتنوړ ( لیدوړ) نه ده.

بیلګه :

د یوه سترګیز یا سترګیز مکعب غورځول:

- په خوښه زیات تکرارور دی.

-لږ تر لږه دوه ممکنه لاس ته راړنې شتون لري.

- پایله مخ له مخه لیدوړ نه ده.

یو پوړیزې تصادفي تجربې:

یو پوړیزې تصادفي تجربې:

که یوه تصادفي پیښه یوځل منځ ته راوړل شوه ، نو د یوه یو پوړیزې تصادفي پیښې غږیږو یا دا یو پوړیزه تصادفي پیښه بولو.

بیلګه:

ممکنه نتیجې

یو ځل د یوې دانې یا لوبو مکعب غورځول. ۴

یو ځل د یوې پیسې ِغورځول عدد (نه محراب ممبر)

د فوټبال په لوبې بایلونې باندې یو ځلې شرط. بریا

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره په ياد لرنه: افغانی چې دوه مخه لري يوه مخ يې چې عدد (ګڼ) ورباندې کښلی دی په Z سره ښايو ( له الماني چې عدد يا ګڼ ته وايي) او بل مخ يې چې محراب ممبر پرې کښل شوی ، د W سره ښايو ( چې د الماني ځخه رانيول شوی او بيرغ ته وايي. هيله ده چې دا ستونځې به غبرګي سره ګالو).

نتيجه:

د تصادفي پيښې پايله د پايلي يا نتيجي په نامه بولو.

بيلګې:


| تصادفی تجربه | نتيجه سټ( - ډېرى) |
|---|---|
| د يوه سترګيز مکعب يو ځل غورځونه | S = {1; 2; 3; 4; 5; 6} |
| د يوې پيسې يوځل غورځونه | S={ عدد، محراب ممبر] |
| د بوسبال ولبې باى باندې يوځلې شرط | S={ ورنه، مساوي، بايلنه} |

تمرين:

درې نورې د تصادفتجربې د هغو د پېښنو سټ سره ورکړی.


د يوې تصادفي تجربې د نتيجو ډېرئ(- سټ) انځورونه

د نتيجو سټ کيدی شي د سټ ليکدود په ډول يا د ونې دياګرام په توګه هم انځور شي.


| د سټ ليکدود په ډول انځورونه | د ونې دياګرام په توګه انځورونه |
|---|---|
| د يوه ګڼونو يا اعدادو مکعب (سترګيزې داني) يو ځل غورځونه S = {1; 2; 3; 4; 5; 6}<br>پيبنه ډېرئ يا -سټ |  |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| یا یوې پیسې یو ځل غورځونه<br>پیښنه ډیرئ(- سټ):<br>S= { د پیسي مخ(عدد)، - څټ(ممبرنښان} | <br>ممبرنښان عدد |

د فوټبال د لوبې پای باندې یو ځل شرط

| | | |
|---|---|---|
| پیښنه ډیرئ(- سټ):<br>S= {بریا ، برابر، بایلنه} | بریا،<br>برابر<br>بایلنه |  |

نتیجه او نتیجه سټ:

د تصادفي تجربې نتیجه د ډېرو وتون امکاناتو یو کونی یا یو ځل وتون دی.

د ټولو ممکنه نتیجو ټولګه د نتیجو سټ ( نتیجه -ډېرئ) بلل کیږي.

$$S = \{e_1; e_2; e_3; ...; e_n\}$$

## ډېر پوړیزه تصادفي تجربې

تصادفي تجربې چې له ریاتو یو په بل پسې یو پوړیزو تجربو ټوګه وي ، ډېر پوړیزې تصادفي تجربې بلل کیږي.

بیلګه:

دوه واره د یوه کاغذي مېخ یا کاغذ ستن غورځولو نتیجه ډېرئ(-سټ) د یوپوړیزې تجربې سره:


د یوپوړیزه تجربې نتیجه ډېرئ(-سټ)

S= {ښوکه، سر } په لنډه بڼه: $S = \{S;K\}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ونې دیاګرام له لارې انځورونه:




نتیجه د ونې دیاګرام څخه ساده لوستل کیږي:

$S = \{(KK);(KS);(SK);(SS)\}$

څلور ممکنه نتیجې لرو. په ونه دیاګرام کې مو هر تار یوې نتجې ته لارښودوي،

تمرین: په یوه مرتبان کې 2 شنه (g) او یوه اسمانرنګه غونداري(کرې) (b) پراته دی.
دوه غونداري د لاندې قانون له مخې راباسو:

یو په بل پسې په هر ځل یو غونداری اوستل کیږي بې له بېرته وراچونې. ونه دیاګرام وکاږئ او نتیجه سټ (- ډېرئ) جوړه کړئ.

ځواب:

ایا د فوټبال لوبې وتون)(یعنې پایونې) باندې شرط اېښوونه یو ه احتمالي تجربه ده؟

شرط په خوښه زیات تکرارو‌ړ دی.

درې ممکنه نتیجې شتون لري( برابلیتوب، برابر پاتې کیدنه، بایلودنه)

نتیجه وړاندوېینوړ نه ده( یعنې وړاند وېینه نه پرې کیږي)

پس د فوټبال لوبې پایونې باندې شرط اېښوونه یوه احتمالی تجربه ده.

حل: درې نورې تصادفي تجربې ورکړئ د هر یوه د نتیجې سټ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته ته:

د بخت ډولکی:    S= {بایلښت، ګټنه}

کتابچه میخ:      S = {څوکه، سر}

د بخت څرخی


د 8 برخو سره:    S= {1,2,3,4,5,6,7,8}

حل:   په یوه مرتبان کې *2* شنه غونډاري  ( غونډوسکې) *(g)* او یو اسمانرنګه غونداري (غنډوسکې) *(b)* پراته دي .

دوه غونډاری(که غواړئ: کرې) د لاندې قانون سره راوېستل کیږي:

یو په بل پسې دوه ځله هر ځل یو غونډاری بې له بېرته ایښوني یا  بې له بېرته د وراچوني سره   راوېستل کیږي..

ونه دیاګرام وکاږئ او نتیجه ست(-ډېرۍ) جوړه کړی.

| | |
|---|---|
| نتیجه- سټ<br>S ={(gg);(gb);(bg)} |  |

حل:

په یوه مرتبان کې *2* شنه غونډاري  ( غونډوسکې) *(g)* او یو اسمانرنګه غونداری (غنډوسکې) *(b)* پراته دي .


دوه غونډاری د لاندې قانون سره راوېستل کیږي:

یو په بل پسې دوه ځله هر ځل یو غونډاری  له بیرته ایښوني یا له بیرته د وراچوني سره راوېستل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه دیاګرام وکاږئ او نتیجه ست(-ډېرئ) جوړه کړئ.

| | |
|---|---|
|  | نتیجه – ست<br>$S = \{(gg); (gb); (bg); (bb)\}$ |

پوښتنې

تصادفي تجربې، ونه دیاګرام، نتیجې ست(-ډېرئ) I

اول – د یوه تصادفي تجربې لاندې څه پوهیږئ؟ غوره خویونه یې وښایئ.

دویم: څلور تصادفي پیښې د هغو د خویونو سره ورکړئ یا په ګوته کئ

دریم - د میوو یوه کارتن کې 10 سره باتینګر او 20 زیړ باتینګر د همغه لویوالي سره پراته دي. . د کارتن څخه په پټو سترګو یو په بل پسې باتینګر راوېستل کیږي( بې له بیرته اینوولو سره) ونه دیاګرام وکاږئ او د نتیجو ست(ډېرئ ) S یې سم کړئ.

څلورم – په یوه بوتل کې 5زیړ ، 3سره او4 شنه د ښیښو باغکې پرتې دي. د بوتل څخه یو په پل پسې باغکې راوېستل کیږي( بې له بیرته اینولو) ونه دیاګرام وکاږئ او د نتیجو ست(ډېرئ ) S یې سم کړئ.

پنځم-

دوه زده کوونکي A او B یو د بل مخامخ یا که غواړئ مقابل د پولوبیلارد لوبې کوي، وړونکی هغه دئ، چې به لومړي ځل دوه لوبې وګټي.

ونه دیاګرام وکاږئ او د نتیجو ست(ډېرئ ) S یې سم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم-

یو کوټې 2سره او4 تور غونډاري یا غونډوسکې (کرې) لري ( یا په کوټې کې ... پراته دي). له کوټې څخه به پټو سترګو یو په بل پسې غونډوسکې راوستل کیږي( بې له بیرته اېښوولو یا بیرته وراچول)

ونه دیاګرام وکاږی او د نتیجو سټ(ډېرۍ ) S یې سم کړی.

اوم- په یوه خلته کې 7 چکلیټ پراته دي، چې له دې څخه 2 زیړ او 5 سره دي. له خلتې څخه یو په بل پسې 3 چکلیټ راوستل کیږي ( بې له بیرته اېښوولو).

څومره شتونوالی شتون لری، چې دا چکلیټ له خلتې څخه راوه وېستل شي؟
اتم - یو د ګڼونو (اعدادو ) یعنې نمره یي قلف له درې څرخونو جوړ دی، چې له 1تر 9ګڼونه یا اعداد لري . یو کس دا ګڼې یا نمرې پیژني، خو په خواشینی باید وویل شي، چې د نمروو ترتیب یې له یاده وتلی.

څومره امکانات شتون لري، ونه دیاګرام رسم کړی. ؛بونه یا اعداد3, 7 او9 دي.
نهم - دوه بخت څرخونه یا ټېرونه یا کړی له درې برابرو برخو (Segments )
څخه چې سرو(r) ، اسماني (b) او شنو(g ) دی جوړ دي. دواړه څرخونه یو له بل خپلواک به همغه وخت کې څرخول کیږي او په عین وخت کې درول کیږي هم.

بختڅرخونه په نخښه کړی. د شرایطو سره یې نتیجې ( r , b )ورکړی، چې نتیجه د ) ( b , r سره برابره نه وي. که د نتیجې سټ(ډېرۍ) لپاره برېکړه شوې وي، که څرخونه په برابروخت کې و څرخول او ودرول شي؟ ځواب یې په دلیلونو سمبال کړی.
د یوه مسلکي ښوونځي 3 نارینه 2 ښځینه زده کوونکو څخه جوړه ده. پچه اچولکیږي، چې څوک به دې کال کې د شورا مشر او ځوک یې مرستیال شي. لومړی ریس او بیا پسې مرستیال ټاکل کیږي.

یو ونه دیاګرام وکاږی او نتیجې S یې ورکړی.

## حلونه (اوبیوني)

تصادفي تجربې، ونه دیاګرام، نتیجې I

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفصل حلونه:

اول : مفصل حل


یوه تصادفی تجربه لاندې خویونه لري:

- د برابرو شرایطو سره په خوښه زیات تکرار کیدونکي دي.
- لږ ترلږه دوه ممکنه نتیجې شتون لري.
- نتیجه له وړاندې نه شي ویل کیدی.


دویم:

| تجربه | د حل سټ یا ډېری |
|---|---|
| الف – د داني یو وار غورځول | $S=\{1;2;3;4;5;6\}$ |
| ب – د پیسي یو وار غورځول | $S=\{Z;W\}$ |
| پ – د یوه بخت څرخ د 5برخو سره چې له 1 تر 5 بورې ګڼه یا نمره لری یو وار څرخول | $S=\{1;2;3;4;5\}$ |
| ت – د یوه مرتبان څخه د2 غونډوسکو یا غونډارو راوېستل چې سره اوتور غونداری دي. | $S=\{rr;rs;sr;ss\}$ |

دریم : مفصل حل ( اوبی)

| ونه دیاګرام | نتیجې: |
|---|---|
|  | $S=\{rrr;rrg;rgr;rgg;grr;grg;ggr;ggg\}$ |

څلورم :



$S=\{gg;gr;gb;rg;rr;rb;bg;br;bb\}$

(c) ketabton.com: The Digital Library




پنځم : مفصل حل

نتيجې:

S = {AA; ABA; ABB; BAA; BAB; BB}

ونه یاګرام




شپږم : مفصل حل

نتيجې

S = {rrs; rsr; rss; srr; srs; ssr; sss}

ونه یاګرام




اوم : مفصل حل

نتيجې


S = {rrr; rrg; rgr; rgg; grr; grg; gg}

پس اوه امکانات شتون لي، چې له خلتې چکلیټ راوباسو



اتم:مفصل حل

ونه دیاګرام



S = {379; 397; 739; 793; 937; 973}


(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول 6 امکانات شتون لري.

نهم: مفصل حل

ونه یاګرام




$S = \{rr; rb; rg; br; bb; bb; gr; gb; gg\}$ .

دا چې دواړه څرخونه یو له بل خپلواک څرخي، به یو – یا همغه وخت کې څرخول او درول نتیجه کې کوم رول نه لوبوی. سړی کړی شي چې یو څرخ پرلپسې دوه واره و څرخوی.

لسم: ونه یاګرام

مرستیال ریس




ښی یا تور : نارینه ز. کیڼ یا سور: ښځینه ز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتيجه : $S=\{ww;wm;mw;mm\}$

دلته w ښځينه او m نارينه زده کوونکي دي.

## دويم - په احتمالوالي شميرنه کې پيښې

پيښې

د يوه تصادفی تجربې نتيجه کېدی شي د پيښو په توګه را يوځای شي.

موږ دانې دا يو ځل غورځول په پام کې نيسو.

نتيجه سټ يا نتيجه ډېرۍ له 6 ممکنه نتيجو څخه جوړه ده: $S=\{1;2;3;4;5;6\}$

د نتيجې په توګه A تعريفوو: غورځول شوی عدد يا ګڼ جوړه يا جفت دی.

نتيجه ډېرۍ له 3 ممکنه نتيجو جوړه ده: $A=\{2;4;6\}$

دا د نتيجې ډېرۍ برخډېرۍ ده . د دې لپاره ليکو: $A\subset S$

پايله : د يوې تصادفي تجربې نتيجه سټ S هره برخسټ ... ,A, B, C پيښه بلل کيږي.

د دې لپاره ليکو: $A\subset S; B\subset S; C\subset S;...$

بيلګه:

يوه پيسه يو په بل پسې پرلپسې غورځول کيږي.

د ونه دياګرام له لارې نتيجه سټ يا د نتيجې ډېرۍ S پيداکيږي.

$$S=\{(ZZZ);(ZZW);(ZWZ);(ZWW);(WZZ);(WZW);(WWZ);(WWW)\}$$

A دې پايله ( نتيجه ) وي ، داسې چې دوه واره W ولويږي :. سټ A څنګه ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



$A = \{(ZZZ);(ZZW);(ZWZ);(WZZ)\} \quad A \subset S$

تمرين :

B دې پېښه وي، چې Z را ښکاره نه شي. د B سټ څنګه ده ؟

تمرين:

C دې نتيجه وی، چې زيات له زياته يو ځل Z ښکاره شي. د C سټ کوم دی؟

د پېښو ډولونه چې په يوه څرخ سر، چې 8 برخې ( قطاع) لري ، ه رامنځ ته کيږي .

نتيجه سټ ( د نتيجو ډېری) : $S = \{1;2;3;4;5;6;7;8\}$

پيښه A : عدد له 9 ګوچنی دی:

$\Rightarrow \quad A = \{1;2;3;4;5;6;7;8\}$

نتيجه A د هرې تصادفي پېښې سره پېښيږي يا رامنځ ته کيږي ، دا متمأنه پېښه بلل کيږي: A = S.

نتيجه B: عدد له 7لوي دی:: $B = \{8\} \quad \Rightarrow$ :

نتيجه B فقط يو توکی لري. دا ساده يا بنسټ پيښه بلل کيږي.

پيښه C : عدد له 1 کوچنی دی: لاس ته راځي $C = \{\ \}$ همداسې $C = \varnothing$ .

نتيجه $C = \varnothing$ هيڅ وخت نه پېښيږي دا يوه نا ممکنه پېښه ده.

| | |
|---|---|
| نتيجه D : عدد له 6 لوي دی. . پايله | $\Rightarrow \quad D = \{7;8\}$ |
| نتيجه $\bar{D}$ : عدد کوچنی يا برابر 6 دی. پايله | $\Rightarrow \quad \bar{D} = \{1;2;3;4;5;6\}$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



$D\bar{D}$ د مخامخ یا معکوسه پیښنه ده.

د نتیجه سټ(-ډېرۍ) هغه توکي خوندي لري، کوم چې په کې خوندي نه دي.

سټ - یا ډېرۍ ډوله لیکنه: $D\bar{D} = S \setminus D$ ، $\bar{D}$ سټ یا ډېرۍ ده fې له D .

د پیښې او معکوس پیښې تولنه یا اتحاد نتیجه سټ ( - ډېرۍ) $D \cup \bar{D} = S$ ده .

مخامخ یا په ښت یا معکوس پیښې ته بیلګې :

| پېښه | معکوس پېښه |
|---|---|
| A: څلور موټر زیانمن ( خراب) دی | $\bar{A}$ لږ تر لږه 5موټر خراب دی |
| B:لږ تر لږه 2 موبایل (ملفونه) غلا شوي | $\bar{B}$ : لږ تر لږه یو موبیل غلا شوی، دا په دې معنا چې هیڅ یا یو موبایل |
| C: کوم موټر شین نه دی | $\bar{C}$ لږ تر لږه یو موټر شین دی |
| D: له درې منو څخه تیک یوه خوټا ده. | $\bar{D}$ I : هیڅ یا دوه یا درې منې خوټا دي. |

به یاد لرنه: د دې لپاره چې یوې پیښې ته معکوس پېښه ومومو په لاندې ډول مخ ته ځو:

اول – نتیجه سټ S وټاکی.
دویم : پیښه ډېرۍ یا پیښه سټ و ټاکی

دریم : د پاتې – یا باقي سټ جوړښت څخه معکوس پیښې ډېرۍ جوړې کړی.

حل امکانات د ،،زیات له زیاته 4 موټرونه زیانمن دي،، .
د ساده کونې له امله له خورا زیات 6 موټرو څخه مخ ته ځو. ټول د کمبینیشنونو امکانات د جوړ ( H) او خراب (D) د پیښو ډېرۍS جوړوي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| $S = \begin{cases} \left.\begin{matrix} HHHHHH \\ DHHHHH \\ DDHHHH \\ DDDHHH \\ DDDDHH \end{matrix}\right\} = A \\ \left.\begin{matrix} DDDDDH \\ DDDDDD \end{matrix}\right\} = \bar{A} \end{cases}$ | د زیات له زیات څلور خرابیو شتونوالی شته<br><br>د لږ تر لږه پنځه خرببو شتونوال شتون لري |

د حل امکانات ،، لږ .تر لږه 2 ملفونونه غلا شوي،،.
د ساده کوني له امله له خورا زیات 4 موبایلونه غلا شوي مخ ته ځو. ټول د کمبینیشنونو امکانات د غلا شوو(G) او نه غلا شوو (N) د پیښو ډېرىS جوړوي..

| | |
|---|---|
| $S = \begin{cases} \left.\begin{matrix} GGGG \\ GGGN \\ GGNN \end{matrix}\right\} = B \\ \left.\begin{matrix} GNNN \\ NNNN \end{matrix}\right\} = \bar{B} \end{cases}$ | لږ ترلږه د دوه ملفونونو د غلا امکانات شته<br><br>د لږ تر لږه یوه ملفون غلا امکانات |

دوه د حل امکانات د ،، کوم موټر اسماني رنګه نه دی،، لپاره.
د ساده کوني له امله له خورا زیات 4 موټرونو مخ ته ځو. ټول د کمبینیشنونو امکانات (B) او نه اسمانینګه (N) د پیښو ډېرىS جوړوي..

| | |
|---|---|
| $S = \begin{cases} \left.\begin{matrix} NNNN \end{matrix}\right\} = C \\ \left.\begin{matrix} BNNN \\ BBNN \\ BBBN \\ BBBB \end{matrix}\right\} = \bar{C} \end{cases}$ | امکانات چې هیڅ موټر شین نه دی<br><br>اکانات چې لږ تر لږه یو موټر شین دی |

د حل امکانات د ،، له درې منو څخه تیک یوه منه خوسا ده،، لپاره.
مور له درې منو څخه پیل کوو. د کمبینښن ټول امکانات د خوسا (F) او نه خوسا (N) یوه نتیجه ډیرئ (-سټ) S جوړوي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| د يوې منې لپاره امکانات چې خوسا ده | $\{FNN\} = D$ |
| امکانات چې يوه، دوه يا هيڅ منه خوسا نه ده. | $S = \left\{ \begin{matrix} FNN \\ FFN \\ FFF \\ NNN \end{matrix} \right\} = \bar{D}$ |

تمرين: B دې نتيجه وي، چې عدد نه را وځي. د B ډېرى څنګه ده يا کومه ده؟

حل : $B = \{(WWW)\} \quad B \subset S$

يادونه : دا چې د B سټ تيک يو توکى لري، په دې حالت کې له يوې ساده ــ يا بنستيزې پيښې عبارت دى.

تمرين : C دې نتيجه وي، چې خورا زيات يو ځل عدد را ښکاريږي. د C سټ کوم دى؟

حل :

$$C = \{(ZWW); (WZW); (WWZ); (WWW)\} \quad C \subset S$$

## دريم - په احتمالوالي شميرنه کې د پيښو ترڼه

د پيښو ترڼه

يوه دانه يو ځل غورځول کيږي. لاندې دوه پيښې منځ ته راځي.

A : د سترګو عدد (کڼ) له 3 لوى دى.

B : د سترګو تعداد جوړه ( جفت) عدد دى.

يوه نوې پيښه لکه چې ګورو لاس ته راځى :

C : د سترګيو تعداد له 3 لوې دى او د سترګيو تعداد يو جوړه عدد دى.

نتيجه C يوه له A او B جوړه د او-ترڼه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیښې C ډېرۍ یا سټ څنګه ده؟

حل: $A = \{4;5;6\} \quad B = \{2;4;6\} \Rightarrow C = \{4;6\}$

د سټ یا ډېرۍ لیکدود له مخې دا په دې معنا دی

د A او B د اوترنه = د A او B غوځډېرۍ یا قطاع = $C = A \cap B$

تمرین :

یوه نوې پیښه، لکه چې ګورو رامنځ ته کیږي:

D : د سترګیو تعداد یا ګڼون له 3 لوي دی یا د سترګیو عدد ( ښه يې تعداد) يو جوړه عدد دی.

دا د پیښه د A اوB څخه یوه د یا – ترنه ده . دD پیښه څنګه لیکلی شو؟

د دې لپاره چې د پیښو ترنې یا عملیې جوړې کړو اړین دی، چې د سټتیوري ( ډېرۍ پوهنه) باندې یو څغلند نظر واچوو:

د ډېرۍ پوهنې یا سټ تیوري لنډیزا

د اعدادو(ګڼونو) سټ: د اعدادو سټ د یو له بل کره توپیروړ اعدادو ټولګه ده.

سټونه په لویو لاتین تورو په نخښه کیږي.

بیلګه:

M= {2,4,6,8,10}

| | |
|---|---|
| 2 د M توکی دی | $2 \in M$ |
| 6 د M توکی دی | $6 \in M$ |
| 3 د M توکی نه دی | $3 \notin M$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سټونو لپاره ليکندود

ګڼنيزه ( د اعدادو له لارې) انځورونه $A=\{1;2;3;4;5\}$

تشريحي انځورونه

په لغاتو يا نوره هم ښه کلمو: $A$ د ټول $x$ سټ دی، کوم لپاره چې باور لري، $x$ له $1$ تر $5$ پورې يو طبيعي عدد دی.

تش سټ( تشدېرۍ)

تشسټ کوم توکي نه لري.

سومبول

د تشسټ لپاره برابر ارزښته ويينې يا ا فادې.

د او په معنا دی

د ډېريو يا سټونو لپاره ليکدود

شمېرنيزه انځورونه $A = \{1; 2; 3; 4; 5\}$

تشريحي انځورونه $A = \{x | 1 \leq x \leq 5\}_{\mathbb{N}}$

په کلمو: $A$د ټولو $x$ سټونو ډېرۍ ده، د کومو لپاره چې باور لري

$x$ يو طبيعي عدد دی له $1$ تر $5$ پورې

تشدېرۍ يا تش سټ $B = \{x | x \in A \wedge x > 5\} = \{\ \}$

تش سټ کوم توکي نه لرى

سومبول $\{\ \} = \varnothing$ د تش سټ دليکلو لپاره برابرارزښته ليکندود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منطقي او بلل کيږي $\wedge$

## په سټونو کې عمليې ( د ډېريو ترنې)

د A او B د تقاطع سټ (د او غوځډېرى)

| | |
|---|---|
| $B = \{e; f; g; h; i; j\}$ | $A = \{a; b; c; d; e; f; g\}$ |
| $C = A \cap B = \{e; f; g\}$ | د A او B د تقاطع سټ يا غوڅډېرئ<br><br>$A \cap B$ (A قطعه شوى له B سره) |
| $A \cap B = \{x \mid x \in A \wedge x \in B\}$ | $A \cap B$ تول هغه توکي لري، چي په A کي او همدي وخت کي په B کي هم پراته وي. |
| د تقاطع سټ د دوه سټونو ترمنځ يوه د او ــترنه يا عمليه ده. | $x \in A \cap B$ په دي معنا چي x په A او B کي پروت دى يا د A او B توکى دى. |

## د ډېريو يا سټونو A او B تولنه يا اتحاد

| | |
|---|---|
| $B = \{2; 4; 6\}$ | $A = \{-4; -2; 1\}$ |
| $A \cup B = \{-4; -2; 1; 2; 4; 6\}$<br>$A \cup B = \{x \mid x \in A \vee x \in B\}$ | $A \cup B$ د A او B تول توکي خوندي لري |
| د اتحاد سټ يا تولنډېرى د سټونو ترمنځ د يا-ترنه يا عمليه ده | $x \in A \cup B$ بلل کيږي:<br>x په A يا B کي پروت دى يا<br><br>x په دواړو ډېريو کي پروتدى |

د سټونو نخښي، د منطق نخښي

| | | |
|---|---|---|
| د سټونو يا ډېريو نخښي د دوه ډېريو يا سټونو ترمنځ | غوڅ – يا قطع شوى | $\cap$ |
| | تولنه يا اتحاد | $\cup$ |
| د دوه ډېريو يا سټونو ترمنځ منطقى نخښي | منطقى او | $\wedge$ |
| | منطقى يا | $\vee$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



دA برخډېرى يا سب سټ

| | |
|---|---|
| وركړ شوي ډېرىB د A يوه برخډېرى ده، ځكه چې د B هر توكى د A توكى هم دى. | $A=\{1;2;3;4;5;6\}$ $B=\{2;4;6\}$<br>$B\subset A$ په دې معنا چې B دA برخډېرى ده |

د دوه ډېريو A او B كمبنت -ياكمونډېرى (باقي سټ)

| | |
|---|---|
| د A او B كمبنتډېرى دA ټول هغه توكي لري، چې په B كې نه وي پراته.<br><br>ليكنه يې: \ لوستنه يې. A بې له B | $A=\{1;4;9\}$ $B=\{0;2;4;6\}$<br>$A\setminus B=\{1;9\}$<br>$A\setminus B=\{x\mid x\in A\wedge x\notin B\}$<br><br>\ : په دې معنا چې ،،بې،، |

$x\in A\setminus B$ په دې معنا چې : x پهA كې پروت دى، مګر نه په B كې

## ترلو پيښو ته بيلګې

ستركى مكعب بيا غورځول كيږي. لاندې پيښې كره كيږي:

A: د ستركيو ګڼون يا تعداد يې له څلورو كم دى.

B : د ستركيو تعداد يې يو ناجوړه ( طاق) عدد(ګڼ) دى.

C : [ 4 ; 5 ]

$A\cap B$ جوړ يا تشكيل كړى او ډېرى يا سټ په لغاتو وليكى.

حل(اوبى):

$$A=\{1;2;3\} \qquad B=\{1;3;5\} \qquad \Rightarrow A\cap B=\{1;3\}$$

$A\cap B$ : د ستركيو تعداد له ځلورو كوچنى او يو ناجوړه يا طاق عدد دى..

(c) ketabton.com: The Digital Library



$A \cup B$ جوړ کړی او دېری په لغاتو کې تشریح کړی.

ځواب :

$A = \{1; 2; 3\} \quad B = \{1; 3; 5\} \quad \Rightarrow A \cup B = \{1; 2; 3; 5\}$

$A \cup B$ : د سترګیو تعداد له ۴ کوچنی دی او یا یو ناجوړه یا طاق عدد.

$\overline{A} \cap B$ تشکیل کړی او دېری په لغاتو کې تشریح کړی.

ځواب:

| | |
|---|---|
| د سترګیو تعداد له ۳ لوي دی | $A = \{1; 2; 3\} \Rightarrow \overline{A} = \{4; 5; 6\}$ |
| د سترګیو تداد یو ناجوړه عدد دی | $B = \{1; 3; 5\}$ |

$\overline{A} \cap B = 5$ د سترګیو تعداد له ۳ لوی او یو ناجوړه یا طاق عدد دی.

$A \cap B$ جوړ کړی او دېری په لغاتو سره تشریح کړی.

ځواب: $A = \{1; 2; 3\} \quad C = \{4; 5\} \quad \Rightarrow A \cap C = \{\ \} = \varnothing$

$A \cap B$ : د سترګیو تعدا له ۴ کوچنی او ۴ یا ۵ دی

داسې یوه پیښه نازغموړ یا بې قرارداده پیښه بلل کیږي.

## نا زغم وړې پیښې:

د دوه پیښو A او B د او –ترنه نازغموړ بلل کیږي .که عوڅدېری یا د تقاطع سټ یې تشه وي، یعنې $A \cap B = \varnothing$ .

د A او $\overline{A}$ د او- ترنه تل نازغوړ ده، ځکه چې باور لري: $A \cap \overline{A} = \varnothing$

پام : تل باور لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$E\cup\bar{E}=S \qquad E\cap\bar{E}=\varnothing$

$E\cup S=S \qquad E\cap S=E$

حل ( اوبی) :

یوه نوې پیښنه ، لکه چې کره کیږي یا ځرګند کتل کیږي، منځ ته راځي:

$D$ : د سترګیو تعداد له ۳ لوي یا د سترګیو تعداد یو جوړه یا جفت عدد دی.

دا پیښنه $D$ یو د او-ترنه ده له $A$ او $B$ .

پیښنه دېرى $D$ څنګه ښکاریږي؟

$A=\{4;5;6\} \quad B=\{2;4;6\}\Rightarrow D=\{2;4;5;6\}$

دا دېرى په لیکندود داسي بربښي

د $D=A\cup B$ $A$ او $B$ تولندېرى = له $A$ او $B$ د یا- ترنه .

## پوښتنې

پیښې او د پیښو ترنه I

لومړی – یوه دانه یو ځل غورځول کیږي.لاندې پیښې په ګڼلووالي لیکنډل ورکړئ.

الف – د سترګیو تعداد له ۳ لوی دی. ب - د سترګیو زیاتون جوړه دی. پ – د ب مخامخ یا معکوس پیښه. ت – نه څلور .

دويم:یوه دانه پرلپسې دوه واره غورځول کیږي. لاندې پیښې په شمیرلي ډول یا د ګڼونو په ډول انځور کړئ.

الف – د سترګیو زیاتون یا جمعه ۵ ده. ب – د سترګیو جمعه جوړه ده او له ۶ لویه. ب – د سترګیو جمعه زیات له زیاته ۴ ده. ت – د سترګیو ضرب ۱۰ دی.

دریم: یو مرتبان ۲ تور او ۴ سره غونډاري خوني لري. د مرتبان څخه پرلپسې غونډاري راوستل کیږي. غونډاري بیرته مرتبان ته نه اجول کیږي. لاندې پیښې تعریفیږي:

الف- لومړی دواړه راوستل شوي غونډاري همغه رنګ لري.

ب- لومړی او اخرنی راوستل شوی غونډاری مختلف رانګونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پ – وروسته له وروسته له دريمې روستنې ټول سره غونډاري راوستل شوي دي.

ت- له دويمې راوستنې لا يو تور غونډارى په مرتبان کې شته.

يو- ونه دياګرام وکاږئ او نتيجه يې ورکړئ

دوه- ټولې پيښې په شمېرنيز يا زياتيدوني ډول سره ورکړي

درې -هرې پيښې ته هغه مخامخ يا معکوس پيښه ورکړئ په ګڼنيز –يا زياتيدوني ډول.

څلورم: يو زده کوونکى په څلور د شميرپوهنې(رياضي) په سوالونو کار کوي. ښوونکى کار داسي اصلاح کوي، چې په ترتيب د هرې پوښتنې په پاى کې r د ټيک او f د ناټيک لپاره ليکي. لاندې پيښې تعريفيږي:

الف- دريمه پوښتنه ناټيک ده.

ب – لږ تر لږه ۳ پوښتنې ټيک دي.

پ – ټيک درې پوښتنې ټيک دي.

يو- ونه دياګرام وکاږئ او نتيجې يې ورکړئ.

دوه- ټولې پيښې په شميرلي(زياتيدوني) ډول ورکړئ

پنځم –

د يوه غونډاري د نتيجو ډېرئ ده:$S=\{1,2,3,4,5,6\}$

لاندېS برخډيرئ کره کيږي:

$A=\{1,2,3\}$ , $B = \{1,2,5,6\}$, $C = \{2,4\}$

الف - وټاکئ $B \cap A$ همداسې $A \cap C; B \cap C$ اوى

ب - $\overline{A}$ وټاکي همداسې $\overline{A \cap C}$ او $S \setminus B$.

پ - يوه پيښه $D \subset S$ ورکړئ، داسې چې پيښې A او D نازغموږ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځوابونه

## پيښې او د پيښو ترڼه ا

## مفصل ځوابونه :

لومړی :

د نتيجو ډېرى $S=\{1;2;3;4;5;6\}$ :

الف - $A=\{4;5;6\}$ ب - $B=\{2;4;6\}$

پ - $C=\overline{B}=S\setminus B=\{1;3;5\}$ ت - $D=\{1;2;3;5;6\}$

دويم -

$$S=\{(1|1);(1|2);(1|3);(1|4);(1|5);(1|6);(2|1);(2|2);(2|3);(2|4);(2|5);(2|6)\}$$
$$\cup\ \{(3|1);(3|2);(3|3);(3|4);(3|5);(3|6);(4|1);(4|2);(4|3);(4|4);(4|5);(4|6)\}$$
$$\cup\ \{(5|1);(5|2);(5|3);(5|4);(5|5);(5|6);(6|1);(6|2);(6|3);(6|4);(6|5);(6|6)\}$$

الف –

$$A=\{(1|4);(2|3);(3|2);(4|1)\}$$

ب –


$$B=\{(2|6);(3|5);(4|4);(4|6);(5|3);(5|5);(6|2);(6|4);(6|6)\}$$

پ - $C=\{(1|1);(1|2);(1|3);(2|1);(2|2);(3|1)\}$

ت - $D=\{(2|5);(5|2)\}$

دريم - الف- نتيجه ډېرئ يا –سټ: سور=r ، تور=s ,

$S=\{ssr;srs;srr;rss;rsr;rrs;rrr\}$



(c) ketabton.com: The Digital Library



ب-

$B = \{ssr; srr; rss; rrs\}$ $\quad A = \{ssr; rrs; rrr\}$

$D = \{srs; srr; rss; rsr\}$ $\quad C = \{ssr; srs; rss\}$


پ-

$S = \{ssr; srs; srr; rss; rsr; rrs; rrr\}$

$\overline{B} = S \setminus B = \{srs; rsr; rrr\}$ $\quad \overline{A} = S \setminus A = \{srs; srr; rss; rsr\}$

$\overline{D} = S \setminus C = \{ssr; rrs; rrr\}$ $\quad \overline{C} = S \setminus C = \{srr; rsr; rrs; rrr\}$

څلورم: مفصل حل الف-



$S = \{rrrr; rrrf; rrfr; rrff; rfrr; rfrf; rffr; rfff; frrr; frrf; frfr; frff; ffrr; ffrf; fffr; ffff\}$

ب-

$B = \{rrrr; rrrf; rrfr; rfrr; frrr\}$ $\quad A = \{rrfr; rrff; rffr; rfff; frfr; frff; fffr; ffff\}$

$D = \{rrrr; rrrf; rrfr; rrff\}$ $\quad C = \{rrrf; rrfr; rfrr; frrr\}$

پنځم مفصل ځواب:

الف- $B \cup C = \{1; 2; 4; 5; 6\}$. $\quad A \cap C = \{2; 4\}$ $\quad A \cap B = \{1; 2\}$

ب -

$S \setminus B = \overline{B} = \{3; 4\}$ $\quad \overline{A \cap C} = S \setminus A \cap C = \{1; 3; 5; 6\}$ $\quad \overline{A} = S \setminus A = \{3; 5; 6\}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پ- او ناز غموږ دي، که باور ولري:

او ناز غموږ دي، که باور ولري: $A \cap D = \varnothing$

بیلګه:

$$D = \{3;6\} \Rightarrow A \cap D = \varnothing$$

## پوښتنې

## پيښې او د پيښو ترڼه II

لومړی – يوه سترګۍ يو ځل غورځول کيږي. لاندې پيښې تعريفيږي:

A : غورځول شوی عدد يا ګڼ له ۴ کوچنی دی.

B : غورځول شوی عدد ناجوړه –يا طاق عدد دی.

لاندې پيښې په شميرلشوې بڼه وټاکئ:

الف - $A \cup B$ ب - $A \cap B$ پ - $\bar{A} \cap \bar{B}$

ت - $\overline{A \cap B}$ ټ - $A \cap \bar{B}$ ث - $\overline{A \cup B}$

دويم – يو مرتبان درې سره او پنځه تور غونډاري(کرې) لري. د مرتبا څخه يوپه بل پسې درې غونډاري راوستل کيږي، بې له بيرته وراچونې څخه. لاندې پيښې تعريفيږي.:

A:لومړي دوه غونډارې بيلبيل رنګونه لري.

B : لومړئ او په پای کې وېستل شوي غونډاري همغه يا برابر رنګ لري.

الف: ونه دياګرام وکاږئ او نتيجه ډېرئ يا سټ يې ورکړئ.

ب- لاندې پيښې په شميرنيزه بڼه ورکړئ.

$$A; B; A \cap B; \bar{A}; \breve{A} \cup \bar{B}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم – په لاتري ډول کې 15 لتري پرتې دي، له دې څخه 10 لاترۍ بیلونکي دي. د لاترۍ ډول څخه بو په بل پسې دوه لاتري راوستلکیږي. لانمدې پیښې تعریفیږي یا راښوول کیږي:

: فقط بایلونکې راوستل کیږي.

: ټیک ګټونکې لاترې راوځي.

:دا اخر راوستله شوې لاترې بایلونکې ده.

الف- ونه زیاګرام وکاږئ او نتجیه ډېرئ یې ورکړئ.

ب- لاندې پیښې واکئ: $D=\overline{A\cup B}$ ؛ او $E=B\cap\overline{C}$ .

څلورم – له دوه پیښوA او B څخه پوهیږدو، چې $A\cup B=S$ او $\varnothing=A\cap B$ دي.

د پیښې A او B په هکله څه ویلای شو؟

پنځم - د یوه مرتبان د 100 برابرډوله ، له 1 تر 100 په ګڼه شوییا په شمیره شوي غونډارو (یا کرو) څخه یو غونډاری راوستل کیږي.

لاندې پیښې تعریفیږي:

A : تعداد یا ګڼونې په ۸ وېشوړ (قابل تقسیم) دی.

B: تعداد یا ګڼونې په 15 وېشوړ (قابل تقسیم) دی

C : تعداد یا ګڼونې په ۸ یا ۹ وېشوړ (قابل تقسیم) دی

D : تعداد یا ګڼونې یه ۹ یا ۱۵ وېشوړ (قابل تقسیم) دی

E: تعداد یا ګڼونې یه ۱۲ یا ۱۵ وېشوړ (قابل تقسیم) دی

F : تعداد یا ګڼونې یه ۱۲ یا ۱۷ وېشوړ (قابل تقسیم) دی

G : تعداد یا ګڼونې یه ۸ وېشوړ (قابل تقسیم) دی

H : تعداد یا ګڼونې په ۱۲ مګرنه په ۸ وېشوړ (قابل تقسیم) دی.

نتیجه ډېرئ په شمیرنیزه توګه(چې ټول د ډېرئ توکي وګڼل شي) ټاکئ.

## ځوابونه

## د پیښو پیښې او د پیښو تړنه یا نښلونه II

مفصل ځوابونه:

لومړی:

الف- $B=\{1;3;5\}$ $A=\{1;2;3\}$ $S=\{1;2;3;4;5;6\}$

ب - $A\cup B=\{1;2;3;5\}$

$A\cap B=\{1;3\}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پ - $\overline{A} = S \setminus A = \{1;4;6\}$ $\quad \overline{B} = S \setminus B = \{2;4;6\} \Rightarrow \overline{A} \cap \overline{B} = \{4;6\}$

ت- $A \cap B = \{1;3\} \Rightarrow \overline{A \cap B} = S \setminus A \cap B = \{2;4;5;6\}$

ټ- $\overline{B} = \{2;4;6\} \Rightarrow A \cap \overline{B} = \{2\}$


ث - $\overline{A \cup B} = S \setminus A \cup B = \{4;6\}$

دویم:

الف-

د پیښو دېرئ یا سټ

$S = \{rrr;rrs;rsr;rss;srr;srs;ssr;sss\}$



ب-

$S = \{rrr;rrs;rsr;rss;srr;srs;ssr;sss\}$

$A = \{rsr;rss;srr;srs\}$ $\quad B = \{rrr;rsr;srs;sss\}$

$A \cap B = \{rsr;srs\}$ $\quad \overline{A} = S \setminus A = \{rrr;rrs;ssr;sss\}$


$\overline{B} = S \setminus B = \{rrs;rss;srr;ssr\} \Rightarrow A \cup \overline{B} = \{rsr;rss;srr;srs;rrs;ssr\}$

دریم:

الف-

نتیجې:

$S = \{GG;GN;NG;NN\}$



(c) ketabton.com: The Digital Library



ب-

$$S = \{GG; GN; NG; NN\}$$

$$A = \{NN\} \qquad B = \{GN; NG\} \qquad C = \{GN; NN\}$$

$$A \cup B = \{NN; GN; NG\} \qquad D = \overline{A \cup B} = S \setminus A \cup B = \{GG\}$$

$$\overline{C} = S \setminus C = \{GG; NG\} \qquad E = B \cap \overline{C} = \{NG\}$$

څلورم: A او B نازغموږ دي. B <= A = S\B د A مخامخ (په څټ يا معکوس) پيښه ده.

پنځم:

S = { 1; 2; ..... 99; 100}
A = { 8; 16; 24; 32; 40; 48; 56; 54; 72; 80; 88; 96 }
B = { 15; 30; 45; 60; 75; 90 }
C = { 8; 9; 16; 18; 24; 27; 32; 36; 40; 45; 48; 54; 56; 63; 64; 72; 80; 81; 88; 90; 96; 99 }
D = { 9; 15; 18; 27; 30; 36; 45; 54; 60; 63; 72; 75; 81; 90; 99 }
E = { 12; 15; 24; 30; 36; 45; 48; 60; 72; 75; 84; 90; 96 }
F = { 12; 17; 24; 34; 36; 48; 51; 60; 68; 72; 84; 85; 96 }
G = { 8; 16; 32; 40; 56; 64; 80; 88 }
H = { 12; 36; 60; 84 }

## څلورم: د نسبي ډېروالي څخه و احتمالوالي ته

### نسبي ډېروالی

120 زده کوونکي پوښتل کيږي، چې ايا دوي يو ملفون لري. د دې پوښتنې پايله ده: له 120 زده کوونکو څخه 99 زده کوونکي يو ملفون لري.

پيښه E : زده کوونکی ملفون لري

په دې حالت کې د پيښې E مطلق ډېروالی H 99 دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د حالتونو تعداد یا ګڼون دی، چې پېښې E په کې رامنځ ته کيږي یا پېښيږي.

د نمونه ازمایښت پراخوال یا غېږ په دې حالت کې 120 دی.

د E نسبي ډېروالی د دې لارې ورکړشوی دی: $h(E)=\frac{H(E)}{n}=\frac{99}{120}=0,825$

په ټولیزه توګه باور لري؛

د نمونه ازمایښت څومره والی/د یوې پېښې مطلق ډېروالی= د یوې پېښې ډېروالی

فورمال: $h(E)=\frac{H}{n}$

تمرین: د په څټ – یا معکوس پېښې $\bar{E}$ نسبي ډېروالی وټاکئ او له $h(E)$ او $h(\bar{E})$ څخه جمعه یا زیاتون جوړ کړئ.

ځواب وروسته.

یادونه: د پېښې E او د هغې معکوس پېښې $\bar{E}$ لپاره باور لري:

; $\bar{E}$ gilt: $h(E)+h(\bar{E})=1$

د احتمالوالي تعریف:

د احتمالوالي تعریف کې سړی کلاسیکی احتمالوالي تعریف او ستاتیستیکي احتمالوالي تعریف ترمنځ توپیر کوي.

## کلاسیکي یا ټولګیز احتمالوالی د یوې بیلګې په بنسټ:

د یوه ایدیال یا ډېر ټیک غورځووني یا سترګي(چې شپږ سترګې لري) څخه سړی داسې مخ ته ځي، چې د 1 او 6ترمنځ هر عدد یا ګڼ د رامنځ ته کیدو لپاره برابر چانس شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ پېښه E تعریفوو: غورځول شوی عدد 6 دی.

د دې عدد د رامنځ ته کېدو لپاره په لاندې توګه تفریف ورکوو:

د ټولو ممکنه پېښو تعداد/په Eپورې اړونده پېښو تعداد=p=P(E)

تمرین: د یوه جوړه عدد لپاره چې له دوه لوی دی په یو ځل غوروځولو سره احتماوالی وشمیرئ.

حل وروسته راځي.



ستاتیستیکي احتمالوالی د بېلګې په توګه د یوه کاغذ ستن غوروځولو لپاره:

که څوک د کاغذ یوه ستن وغوروځوي، نو دا یا په شا یا په اړخ لوېږیدلې پاتیږي.



سږی له دې مخ ته نه شي تللی، چې دلته دې چانس برابر وي. د دې اغیزوالی د کاغذمیخ په جوړیدېنه کې پروت دی. کیدی شیچې دا د کاغذ ستن برابرډوله یا لږ برابرډوله جوړه شوې ده. د دې لپاره چې دلته په احتمالوالي وینا وکړی شو، باید تجربې وکړو.

یوه د کاغذ ستن سل واره غوروځول کیږي، نسبي ډېروالی شمیرل کیږي.

| نتیجه |  |  | جمعهn |
|---|---|---|---|
| مطلق ډېروالی$n_i$ | 44 | 56 | 100 |
| نسبي ډېروالی | | | |

$$h(e_i) = \frac{n_i}{n} \quad \frac{44}{100} = 0,44 \; \frac{56}{100} = 0,56 \; \frac{100}{100} = 1$$

| | | | |
|---|---|---|---|
| نسبي ډېروالی په %کې، | 44% | 56% | 100% |

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجربې ښايي، چې د جګيدونکو تجربو د تعداد سره پای ارزښت ته سره نږدې کيږي، دا سره ور نږدې( pendelt يا ټال خوري )کيږي.

دا پای ارزښتونه ستاتيستيکي ارزښتونه بلل کيږي.

د دې لپاره چې زموږ د تجربو لپاره يوه د منلو وړ وينا وکړای شو، بايد دا تجربه زياته تکرار شي.

لکه په سترګي يا غورځووني کې ډېروټاکل شي، نو د نسبي ډېروالي خوريدنه د يوه ټاکلي سترګی تعداد رامنځ ته کيدو لپاره په يوه ټاکلي ارزښت رامنځ ته کيدو باندې را تنګيږي يا را ټوليږي، په غورځوني يا سترګئ کې په 1/6 ارزښت. له دې امله ستاتيستيکي احتمالوالی د پولې ارزښت په حيث تعريفيږي، د ازماېښتونو تعداد د ناپای خواته ځي:

$$p = P(E) = \lim_{n \to \infty} \frac{H(E)}{n}$$

د n سره دتجربو د تعداد په حيث او د H(E) سره د مطلق ډېروالي په حيث.

يادونه: د توکلي ازماېښت د ټاکلو پيښو احتمالوالی د منتظره نسبي ډېروالي لپاره خوراښه وړاندوييته يا فرضيه ده.

يوه تجربه دې واضح کړي، چې دپيښو نسبي ډيروالی په يوه ټاکلي ارزښت خوزي يا حرکت کوي، که د ازماېښتونو تعدادپوره ستر وي.

ازماېښت: لس د کاغذ ستنې په همغه يا يوه وخت کې وغورځوئ او د پيښو تعداد په پام کې ولرئ.

E :د کاغذ ستنې په شا پرتې دي.

دا تجربه په ټوليزه توګه لس واره تکرار کړئ.
دا د تجربې کړنه دې داسې وګڼل شي، چې ګوندې يو د کاغد ستن دې سل واره غورځول شوې وي.دا راټول مطلقه ارزښت دې په يوه جدول کې وکاروئ او نسبي ډېروالی بيا وشميرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| ازماېښت نمره | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ni | 10 | 20 | 30 | 40 | 50 | 60 | 70 | 80 | 90 | 100 |
| H( E )راتول شوي | 5 | 9 | 11 | 14 | 18 | 25 | 28 | 42 | 37 | 44 |
| $h(E)=\frac{H(E)}{n_i}$ | 0,5 | 0,45 | 0,37 | 0,35 | 0,36 | 0,42 | 0,4 | 0,4 | 0,41 | 0,44 |

پورته کې د الماني پښتو په ترتيب: د تجربې نمره، راټول.

که دا تجربه يا ازماېښت له ډېرو کسانو له خوا د برابرو شرايطو لاندې وشي، نو کېدی شي د د تجربو د ډېروالي سره و ارزښتول شي.

دا د بيلګې په توګه د 10 تجربه کسانو د تجربو زياتوالی يا جمعه کيدنه و 1000 تجربو ته د تعداد جګوالي سره په برابره معنا دی.

دلته هم نسبي ډېروالی وشميرئ.

په لاندې د الماني پ: د کسانو ګڼه(نمره) ، راټول(ګڼوالی يا زياتوالی.

| د شخص ګڼهNi (Nr) | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | 100 | 200 | 300 | 400 | 500 | 600 | 700 | 800 | 900 | 1000 |
| H(E) | 44 | 38 | 42 | 49 | 50 | 48 | 51 | 47 | 42 | 44 |
| راټول H(E) | 44 | 82 | 124 | 173 | 223 | 271 | 322 | 369 | 411 | 455 |
| $h(E)=\frac{H(E)}{n_i}$ | 0,44 | 0,41 | 0,413 | 0,433 | 0,446 | 0,452 | 0,46 | 0,461 | 0,457 | 0,455 |

د پورته کيڼ په ترتيب


نسبي ډيروالی په يوه دياګرام کې وليکئ او د نسبي ډېروالي وده تر څېړنې لاندې ونيسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو انتروال ورکړئ، په کوم کې چې نسبي ډېروالی خوزي یاټال خوري.

د تجربي وتنه باندې کومنتار ورکړئ یا تشریح کړئ.




پورته کېڼ: نسبي ډېروالی، لندې یا کته: ازماېښت
داسې لیدل کیږي، چې نسبي ډېروالی په انتروال [0,45;0,46]=اکې کښته پروته ځغلي یا ټال خوري یا خوزي.

دا تجربه واضح کوي، چې د تجربو د لږ تعداد سره نسبي ډېروالی قوي په یوه ټاکلي عدد ځانګي یا ټال خوري یاور نږدې کیږي.

هر څومره چې د جربو تعداد زیات شي نو دا ارزښت د یوه نسبي ډېروالي یوه ټاکلي ارزښت ته ور نږدې کیږي.

دا ارزښت کیدی شي د ستاتیستیکي احتمالوالي په حیث د پیښې E د پیښیدو لپاره په ګوته شي یا وټاکل شي.

دا زموږ د بیلګي لپاره په دې معنا دی، چې د دې لپاره احتمالوالی چې دکاغذ ستني په شاپرتې دي د ازښتونو 0,45 او 0,46ترمنځ خوزي یا ټالئ خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معکوس یا په څټ پیښې لپاره( د کاغذ ستنې په اړخ پرتې دي) احتمالوال د 0,54 او0,55 تر منځ پروت دی.

داپه دې معنا، چې دا استعمال شوې د کاغذستنې د دواړو پیښو رامنځ ته کېدو لپاره( په شا یاپه اړخ) نابرابر احتمالوالی لري.

بېلګه: دا په ځنګ کې د بخت څرخ شپږ برخې لري، څنې د مختلف لویوالي سره .

نتیجه ډېرئ یا ـــسټ په دې معنا چې S ممکنه پیښې:

S={1,2,3,4,5,6}

موږ دوه پیښې تعریفوو:

A : ګڼه یا نمره جوړه (جفت)ده. لهدې لاس ته راځي:A={2,4,6}

B : ګڼه ناجوړه(طاق) ده له دې لاس ته راځي:B={1,3,5}

که چیرې دا د بختڅرخ په برخو 2, 4 او 6 دریږي، نو وایو، چې پیښه A رامنځ ته شوې یاپیښه شوې ده.

که دا ښودونکی په برخو 1, 3 او 5ودریده، نو پیښه B رامنځ ته کیږي.

لومړی د ساده پیښو احتمالوالی تر ځیرنې لاندې نیسو

$$P(1)=P(3)=\frac{1}{8} \qquad P(2)=\frac{1}{4} \qquad P(4)=P(5)=P(6)=\frac{1}{6}$$

د A پیښې د پیښدو لپاره احتمالوالی په لاندې ډول شمیرل کیدی شي:

$$P(A)=P(\{2;4;6\})=P(2)+P(4)+P(6)=\frac{1}{4}+\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{7}{12}$$

د B پیښې د پیښدو لپاره احتمالوالی په لاندې ډول شمیرل کیدی شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(B) = P(\{1;3;5\}) = P(1) + P(3) + P(5) = \frac{1}{8} + \frac{1}{8} + \frac{1}{6} = \frac{5}{12}$$

تمرین: د A د معکوس – یاپه ښت پیښي لپاره احتمالوالی وشمیرئ.

ځواب وروسته راځي:

دA د معکوس پیښي $\overline{A}$ یو بل د حل امکانات:

$$P(\overline{A}) = 1 - P(A) = 1 - \frac{7}{12} = \frac{5}{12}$$

د پیښي S لپار احتمالوالی تل 1 دی، نو P(S)=1.

دا فوراً روښانه ده، ځکه چې یاده پیښي تل رامنځ ته کیږي، د بیلګې په توګه د یوه سترګي غورځولو سره تل یو عدد رامنځ ته کیږي.

د ساده پیښو ټولګه:

$S = \{e_1; e_2; e_3; \dots; e_n\}$ د یوه توکلي تجربې پیښه ډېرئ یا –سټ دی.

$e_1; e_2; e_3; \dots; e_n$ د هغې ساده پیښي دي، د بیلګې په توګه د غورځوني یا سترګي سره اعداد 1,2,3,4,5 او6 .

نو د احتمالوالي P لپاره باور $0 \le P(e_i) \le 1$ لري د ټولو i لپاره د 1 تر n پورې.

دا په دې معنا، چې د یوې پیښي احتمالوالی تل د 0او 1 ترمنځ پروت دی او ناکمیز یا نامنفي دی.

$P(S) = P(e_1) + P(e_2) + P(e_3) + \dots + P(e_i) = 1$ د جمعې یا زیاتون ساده لار.

د A د معکوس پیښي لپاره، یعنې د $\overline{A}$ لپاره تل باور لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(\overline{A}) = 1 - P(A)$$

د يوې ناشونې پيښې لپاره، د بيلګې په توګه په شپږيزسترګې(۶ سترګي مکعب يا غورځوونکي) سره چې يو ۷ وغورځول شي باور لري:

$$P(\varnothing) = 0$$

تمرين: يو سترګی يووار غورځول کيږي. لاندې پيښې کره کيږي.

A : د سترګيو عدد له 4 لوي دی.

B : د سترګيو ګڼ يا عدد ناجوړه يا طاق عدد دی.

C : [ 4 ; 5 ]

الف: $E_1 = A \cap B$

$P(E_1)$ وټاکئ او $E_1$ د کلمو يا لغاتو سره تشريح کړئ.

ب- $E_2 = A \cup B$

$P(E_2)$ وټاکئ او $E_2$ د کلمو يا لغاتو سره تشريح کړئ.

پ- $E_3 = \overline{A} \cap B$

$P(E_3)$ وټاکئ او $E_3$ د کلمو يا لغاتو سره تشريح کړئ.

ت- $E_4 = A \cap C$

$P(E_4)$ وټاکئ او $E_4$ د کلمو يا لغاتو سره تشريح کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوابونه وروسته:

## د لاپلاس تجربه Laplace- Experimente

موږ تر اوسه د توکلي تجربو دوه مختلف ډولونه وپیژندل.

١ – داسې له دوه برابر احتمالي وېش سره.

٢ – داسې له نابرابر احتمالوالي وېش سره.

لومړي ګروپ پورې اړه لري:

- د یوه (شپږ) سترګي غورځول.
- د یوې پیسې غورځول.
- د یوه بخت څرخي څرخول د برابر لویو برخو یا توتوSegmenten سر.

په دویم ګروپ پورې اړه لري:

- د یوه کاغذستن غورځول.
- د یوه بخت څرخ ګرځول د نابرابر لویو برخو سره.

د لاپلاس تجربه:

که د یوې توکلي یا تصادفي تجربې ټولې ممکنه نتیجې(لومړی ګروپ) برابر احتمالوالی لري، نو سړی د لاپلاس تجرې څخه غږیږي یا دا د لاپلاس تجربه بولي.

نو که سړی هره نتیجه د احتمالوالي ( د ټولو ممکنه نتیجو تعداد / p=1 ) سره تنظیم کړي، نو دا د یو مودل -نیونه یا -- فرضیه ( لاپلاس – مودل) ده.

د لاپلاس د تجربي سره د یوې نتیجې د احتمالوالي ( P( E لپاره باور لري:

د ټولوممکنه نتیجو تعداد / په E پورې اړونده نتیجه=P(E)

تمرین: یو د بخت څرخ لس برابرې برخې لري.

E : ښوونی یا ښوونستن په یوه په درې وېشوړ عدد باندې دریدلی پاتیږي.

P( E ) وټاکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره احتمالوای څومره لوي دی، چې ښوونی په يوه عدد ودريږي، چې په درې وېشوړ نه دی.

حل وروسته:

تمرين:

په يوه مرتبان کې دوه او درې سره غونډاري شتون لري. يو ځل راوستل کيږي.
الف- د کوم احتمالوالي سره راوستل شوی غونډاری تور دی؟
دوريم: څومره تر غونډاري بايد په مرتبا کې پراته وي، د تور غونډاري د راوستلو لپاره احتمالوالی له 0,7 څخه لوی وي؟

تمرين: د په څټ – يا معکوس پيښې $\bar{E}$ نسبي ډېروالی وټاکئ او له $h(E)$ او $h(\bar{E})$ څخه جمعه يا زياتون جوړ کړئ.

ځواب: دا مخامخ –يا معکوس پيښه $\bar{E}$ ده. زده کوونکی ملفون(موبايل) نه لري.

له دې سره د $\bar{E}$ نسبي ډېروالی دی:

$$h(\bar{E}) = \frac{H(\bar{E})}{n} = \frac{21}{120} = 0,175$$

جمعه يا زياتون:

$$h(E) + h(\bar{E}) = 0,825 + 0,175 = 1$$

تمرين: د يوه جوړه عدد لپاره چې له دوه لوی دی په يو ځل غوروځولو سره احتماوالی وشميرئ.

ځواب:

نتيجه ډېرئ له ۶ ممکنه پيښنو جوړه ده: $S = \{1; 2; 3; 4; 5; 6\}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښه دېرئ له ۲ ممکنه نتيجو جوړه ده: $E = \{4; 6\}$

له دې سره، چې يو جوړه عدد له ۲ څخه لوي وغورځول شي، د احتمالوالي لپاره باور لري:

$$p = P(E) = \frac{2}{6} = \frac{1}{3} = 0,\overline{3}$$

تمرين: د A د معکوس – ياپه څټ پېښې لپاره احتمالوالی وشميرئ.

ځواب: نتيجه دېرئ يا –سټ S له عددونو 1, 2, 3, 4, 5 او 6 جوړه ده.

پېښې A پورې جوړه عددونه 2, 4 او 6 اړه لري. د A سره معکوس پېښه د کمپنتدېرئ يا تفريق سټ له لارې ميدل کيږي.

$$\overline{A} = S \setminus A = \{1; 3; 5\}$$

په تصادفي ډول B دا همدا اوس پېښه سټ يا –دېرئ ده، چې ارزښت $P(B) = \frac{5}{12}$ يې شميرل شوی دی.

تمرين: يو سترگی يووار غورځول کيږي. لاندې پېښې کره کيږي.

A : د سترگيو عدد له 4 لوي دی.

B : د سترگيو کڼ يا عدد ناجوړه يا طاق عدد دی.

C : [ 4 ; 5 ]

الف: $E_1 = A \cap B$

$P(E_1)$ وټاکئ او $E_1$ د کلمو يا لغاتو سره تشريح کړئ.

ب- $E_2 = A \cup B$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$P(E_2)$ وټاکئ او $E_2$ د کلمو يا لغاتو سره تشريح کړئ.

پ- $E_3 = \overline{A} \cap B$

$P(E_3)$ وټاکئ او $E_3$؛ د کلمو يا لغاتو سره تشريح کړئ.

ت- $E_4 = A \cap C$

$P(E_4)$ وټاکئ او $E_4$ د کلمو يا لغاتو سره تشريح کړئ.

ځواب: الف-

$$A = \{1;2;3\} \qquad B = \{1;3;5\} \qquad \Rightarrow E_1 = A \cap B = \{1;3\}$$
$$P(E_1) = P(1) + P(3) = \frac{1}{6} + \frac{1}{6} = \frac{1}{3}$$

$E_1$: د سترګئ عدد له ۴ لوي او يو ناجوړه(طاق) عدد دی؟

ب-

$$A = \{1;2;3\} \qquad B = \{1;3;5\} \qquad \Rightarrow E_2 = A \cup B = \{1;2;3;5\}$$
$$P(E_2) = P(1) + P(2) + P(3) + P(5) = \frac{1}{6} + \frac{1}{6} + \frac{1}{6} + \frac{1}{6} = \frac{2}{3}$$

$E_2$: تعداد له ۴ لوی دی يا يو ناجوړه (طاق) عدد دی.

پ –

| | |
|---|---|
| دسترګيو تعداد له ۳ لوی دی.<br>د سترګيو تعداد يو ناجوړه يا طاق عدد دی | $A = \{1;2;3\} \Rightarrow \overline{A} = \{4;5;6\}$<br>$B = \{1;3;5\}$<br>$E_3 = \overline{A} \cap B = \{5\}$<br>$P(E_3) = P(5) = \frac{1}{6}$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



$E_3$: د سترګيو تعداد له ۳ لو دی او يو ناجوړه عدد دی.

ت-

$$A = \{1;2;3\} \qquad C = \{4;5\} \qquad \Rightarrow E_4 = A \cap C = \{\ \} = \varnothing$$
$$P(E_4) = P(\varnothing) = 0$$

$E_4$: د سترګيو تعداد له۴ کوچنی دی او۴ يا ۵ دی.

داسې يوه پيښه نامناسب بې مصلحته يا ناغوښتونې يا که غواړئ نازغموړ بلل کيږي له دې امله د $E_4$ د رامنځ ته کيدو احتمالوالی صفر دی.

تمرين: يو د بخت څرخ لس برابرې برخې لري.

E : ښوونی يا ښوونستن په يوه په درې وېشوړ عدد باندې دريدلی پاتيږي.

P( E ) وټاکئ.

د دې لپاره احتمالوای څومره لوي دی، چې ښوونی په يوه عدد ودريږي، چې په درې وېشوړ نه دی.

ځواب:

$$S = \{1;2;3;4;5;6;7;8;9;10\} \qquad E = \{3;6;9\} \quad \Rightarrow P(E) = \frac{3}{10} = 0{,}3$$
$$P(\bar{E}) = 1 - P(E) = 1 - 0{,}3 = 0{,}7$$

تمرين: په يوه مرتبان کې دوه او درې سره غونداري شتون لري. يو ځل راوستل کيږي.

الف- د کوم احتمالوالي سره راوستل شوی غونداری تور دی؟


دوريم: څومره تر غونداري بايد په مرتبا کې پراته وي، د تور غونداري د راوستلو لپاره احتمالوالی له 0,7 څخه لوی وي؟

ځواب-

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف-

| | |
|---|---|
| د ونې دیاګرام له لارې حل.<br><br>احتملوال چې تور غونډاری راووستل شي 2/5 دی، یو سور چې راووستل شي 3/5 دی.<br><br>احتمالوالی په اړونده تار لیکل کیږي. |  |

ب- په مرتبان کې x تور او 3 سره غونډاري پراته دي.

په مرتبان کې ټول x + 3 غونډاري شتون لري.

E :راوستلی غونډاری تور دی.

اینبوونه: $P(E) > 0,7$

$$P(E) = \frac{x}{x+3} \quad \Rightarrow \frac{x}{x+3} > 0,7$$

$$\Leftrightarrow x > (x+3)\cdot 0,7 = 0,7x + 2,1 | -0,7x$$

$$\Leftrightarrow 0,3x > 2,1 | : 0,3$$

$$\Leftrightarrow x > 7$$

باید په مرتبانکې لږ ترلږه ۸ تور غونډاري شتون ولري چې له دې سره داسي لږ ترلږه د 0,7 احتمالوالي سره یو غونډاری راووستل شي

## پوښتنې

## نسبي ډېروالی، احتمالوالیا

لومړی:

په لیکني بیالوژي ازموینه کې لاندې نمرې ورکړ شوي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه: په المان کې نمري له ۱ تر ۵ پورې ورکول کیږي، چې په ۵نمرو سړی ناکام دی

3; 4; 3; 2; 3; 1; 5; 5; 4; 3; 3; 2; 1; 4; 2; 5; 4; 2; 4; 3

الف- یو د ډېروالي جدول جوړ کړئ او نسبي ډېروالی وشمرئ.

ب- وېشنه په یوه ګردئ- یا دایروي دیاګرام انځور کړئ.

پ-یو د ازموینې کاندید تصادفي ټاکل کیږي. د کوم احتمالوالي سره هغه یوه ۱ اخستې؟

ت- یو د ازموینې کاندید تصادفي ټاکل کیږي. د کوم احتمالوالي سره هغه یو ۲ یا ۳ لیکلې یا اخستې؟

دویم: د یوې توکلي یا تصادفي ازماېښت نتیجې لپاره احتمالوالي p = 0,73 دی. دا نتیجه به څومره واره رامنځ ته شي، که دا ازماېښت 350 ځله سرته ورسول شي.

دریم: د یوه مسلکي کالج د زده کوونکو ستاتیستیک یا احسایه د په څلور پټیز- یا ساحوي تختو کې په لیست شوې داتا څخه را اخستل کیږي.

| | M | $\bar{M}$ | Summe |
|---|---|---|---|
| F | | 1200 | 1680 |
| $\bar{F}$ | 672 | | 1812 |
| Summe | 1152 | | 3492 |

M معنا: زده کوونکی نارینه دی. د F معنا: د FORپه حیث د زده کوونکو وتون استعداد. Summe =زیاتون.

الف- دا پاتې یا باقي ډېروالی وشمیرئ او دا په یوه څلور سطحیزتخته باندې ولیکئ.

ب - نسبي ډېروالی و ټاکئ او دا په یوه څلورپټي یا سطحیزه تخه ولیکئ.

پ- یو نفر تصادفي ټاکل کیږي.

اول. دا د کوم احتمالوالي سره نارینه دی؟

| $X=x_i$ | 0 | 1 | 7 | 21 | 28 |
|---|---|---|---|---|---|
| $P\left(X=x_i\right)$ | $\frac{14}{91}$ | $\frac{42}{91}$ | $\frac{30}{91}$ | $\frac{4}{91}$ | $\frac{1}{91}$ |

$$E\left(X\right)=\sum_i x_i\cdot P\left(X=x_i\right)=0\cdot\frac{14}{91}+1\cdot\frac{42}{91}+7\cdot\frac{30}{91}+21\cdot\frac{4}{91}+28\cdot\frac{1}{91}=\frac{364}{91}=\underline{\underline{4}}$$

د € 4 شرط سره لوبه عادلانه ده.

ټ - (۱) ۶ وکال او ۸ کنسونانت په مرتبانکې شتون لري..

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(VV \vee KK) = P(VV) + P(KK) = \frac{\binom{6}{2}}{\binom{14}{2}} + \frac{\binom{8}{2}}{\binom{14}{2}} = \frac{\binom{6}{2} + \binom{8}{2}}{\binom{14}{2}}$$

(۱) که x وکال ورواچول شي، نو د وکال د تعداد لپاره باور لري:8 + x

د $P(VV \vee KK) = 0,5$ سره باور لري:

$$P(VV \vee KK) = \frac{\binom{6}{2} + \binom{8+x}{2}}{\binom{14+x}{2}} = \frac{\frac{6 \cdot 5}{2 \cdot 1} + \frac{(8+x)\cdot(7+x)}{2 \cdot 1}}{\frac{(14+x)\cdot(13+x)}{2 \cdot 1}}$$

$$= \frac{30 + (8+x)\cdot(7+x)}{(14+x)\cdot(13+x)} = 0,5$$

$$\Leftrightarrow x^2 + 3x - 10 = 0 \Leftrightarrow \underline{\underline{x_1 = -5 \wedge x_2 = 2}}$$

باید ۲ کارتونه د کنسونانت سره ور واچول شي. دا برابره نتیجه (P = 0,5) به لاس ته راشي، که ۵ کنسونانت ترې لرې شي.

## یوولسم - د برنولي – ازماېښت

او د بېنومیال وېشنه یا خورونه

ډېرې تصادفي تجربې کېدی شي د دوه پېښو سره د تجربې په څېر راوړل شي، لکه د بېلګې په توګه
-
د سیکې غورځول د محراب ممبر نښان او ګڼ یا عدد سره
- د یوه کتابچې مېخ غورځونه د یوې پېښې څوکې یا شا سره.
د یوه سترګې غورځول د نتیجې 6 یا نه 6 سره.


داسې تجربې د برنولي-تجروبو په نامه یادیږي. د داسې تجربو دواړه نتیجې سرې د بریاو یا نه بریا په څېر په نخښه کوي. که دا تجربه n - واره تکرار شي، نو د n - پوړیزې برنولي –تجربې څخه غږیږو یا د یوه برنولي - ځنځېر څخه د n - اوږدوالي سره. د n -پوړیز ې برنولي –تحربي څخه غوښتل کیږي، چې د یوې تجربې نتیجه د

(c) ketabton.com: The Digital Library




بلي تجربې څخه بې تاثيره پاتې کيږي. د داسي يوې n -پوړيزې تجربې سره سړی د تجربو د برياوو او نابرياوو تعداد لپاره علاقه نيسي.

پيل بيلګه: يو سترګيز مکعب يو په بل پسې درې واره غورځول کيږي. موږ د احتمالوالي سره علاقه لرو، چې وپوهيږو، چې ايا عدد (ګڼ) 6 په دې ازمايښت کې 0, 1, 2 يا 3ځله رامنځ ته کيږي. E ( Erfolg )د بريا يا رمنځ ته کېدنې په معنا او M (Misserfolg)د نابريا د ر امنځ ته کxدني په معنا دي.




لاندې الماني=احتمالوالی




پورته ا لماني = راوستل شوی عدد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دایو دريِ پوړیز برنولی- ازماېښت دی.
د وني دیاګرام څخه د تار قانون له مخي په ساده توګه احتمالوالی کنل (شمېرل)کېدی شي.

$$S = \{EEE; EEM; EME; EMM; MEE; MEM; MME; MMM\}$$

نتیجه ډېری (-سټ) اته توکي ( د تارونو تعداد) لري، چي دا هر وار د دريِ پرلپسي پېښنو تنظیم څخه منځ ته راغلي. د پوړیو تعداد جګوالي سره د دندې یا تمرین کارونه د وني دیاګرام سره نور ناممکن دی.

د تارونو تعداد د k بریاوو سره

د یوه پوړ n -پوړیزيِ برنولي – ازماېښت سره د نتیجي ډېری هر توکی د پرلپسي پېښنو څخه منځ ته راغلی.

د بېلګي په توګه EM....... EEMMEEEM . د تارونو تعداد چي د بریاوو سره بیداکړو، له دي سرهپه همغه معنا دی، چي د نتیجه ډېریَ څخه د توکو تعداد پیدا کړو، چي k -ځله د لړیَ پرلپسي څخه خپلواک یوه بریا وښایي. یا راکړي.

دا کیدی شي داسي هم فرمول بندي شي: په څو ډوله کېدی شي k شیان د n شیانو څخه د لړیَ پرلپسي څخه خپلواک انتخاب کړی شي؟

| | |
|---|---|
| دا لوټو-پرابلم رایادوي، په هغي کي چي له $n = 49$ شیانو $k = 6$ شیان بي د پرلپسي لړی ترتیب څخه وټاکلشي.<br><br>په دي خالت کي د امکاناتو تعداد وو:<br><br>$\binom{49}{6} = \frac{49\cdot48\cdot47\cdot46\cdot45\cdot44}{6\cdot5\cdot4\cdot3\cdot2\cdot1} = \underline{\underline{13.983.816}}$<br><br>دا د شمېرني قانون د برنولي –تجربي باندي هم کارول کېدی شي، که د تارونو تعداد د k بریاوو سره وپلټو. | زموږ د بېلګي لپاره باور لري:<br>n=3 ; k=0;1;2;3;<br>د تارونو تعداد<br>k = د بریاوو تعداد<br><br>0: $\binom{3}{0} = 1$<br>1: $\binom{3}{1} = \frac{3}{1} = 3$<br>2: $\binom{3}{2} = \frac{3\cdot2}{1\cdot2} = 3$<br>3: $\binom{3}{3} = \frac{3\cdot2\cdot1}{1\cdot2\cdot3} = 1$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د n - پوړيزې برنولي –تجربې د تارونو تعداد دk برياوو سره دی:

| | |
|---|---|
| n د تجربو تعداد او k د برياوو تعداد | $\binom{n}{k}$ |

بیلګه: يو سترګيز مکعب n = 5 ځله غورځول کيږي

د بريا ارزښت د سترګيو تعداد 6 دی.


په نتيجه ونه کې د k = 3 سره څومره تارونه شتونلري؟

حل ( اوبی) د k = 3 برياو سره د د تارونو تعداد دی: $\binom{5}{3} = \frac{5 \cdot 4 \cdot 3}{3 \cdot 2 \cdot 1} = 10$

به دې تجربه کې په ټوليزه توګه 10 تارونه شتون لري، چې هر ځل 3 برياوې خوندي لري.

## د يوه تار لباره دk برياوو سره احتمالوالی

د يوې روښانه بيلګې سره دې د يوه تار احتمالوالی د شمېرلو د شمېرني قانون وښوول شي. دا قانون دې بيا توليز شي.




د دې تار احتمالوالی کېدی شي دتار ضربقانو سره و ټاکل شي

$$P(EMEEM) = \frac{1}{6} \cdot \frac{5}{6} \cdot \frac{1}{6} \cdot \frac{1}{6} \cdot \frac{5}{6} = \left(\frac{1}{6}\right)^3 \cdot \left(\frac{5}{6}\right)^2$$

د دې تصادفي تجربې د پوړيو تعداد n = 5 دی.

د برياو تعداد k = 3 دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نابریاوو تعداد $n - k = 5 - 3 = 2$ دی.

دا عددونه د احتمالوالي د بریاوو $(p = 1/6)$ لپاره د اکسپوننت یا جګ عدد په څېر رامنځ ته کیږي همداسې د نه بریاو$(q = 5/6)$ لپاره رامنځ ته کیږي

باور لري:$q = 1 - p = 1 - 1/6 = 5/6$

له دې سره کېدی شي احتمالوالی د $n = 5$ او $k = 3$ لپاره لکه چې لرووشمېرل شي:
:

$$P(EMEEM) = \left(\frac{1}{6}\right)^3 \cdot \left(1 - \frac{1}{6}\right)^2 = p^3 \cdot (1-p)^2$$

تولیزونه :

دا چې دا د یوه $n$ - پوړیز برنولي – ازماېښت سره یو ازماېښت دی، د کوم سره چې هره پوړۍ د بریا احتمالوالی $P(E) = p$برابر پاتې کیږی ، تارضربقوانو له مخې د هر $k$ بریا وو سره او $n - k$ نابریاوو سره باور لري:

$$\text{تاردیاګرام} = p^k \cdot (1-p)^{n-k}$$

د کوم سره چې $1\text{-}p$ د نابریا لپاره احتمالوالی انځوروي

د $n$ – پوړیز برنولي-ازماېښت د $k$ بریاوو لپاره احتمالوالی

$$P(X = k) = \underbrace{\binom{n}{k}}_{\substack{\text{Anzahl der Pfade} \\ \text{mit k Erfolgen}}} \cdot \underbrace{p^k \cdot (1-p)^{n-k}}_{\substack{\text{Wahrscheinlichkeit für einen Pfad} \\ \text{mit k Erfolgen und n–k Misserfolgen}}}$$

د بینومیال ضریب لپاره یادونه $\binom{n}{k}$ د $q = (1-p)$ سره

$$(q+p)^n = \binom{n}{0} \cdot p^0 \cdot q^n + \binom{n}{1} \cdot p^1 \cdot q^{n-1} + \binom{n}{2} \cdot p^2 \cdot q^{n-2} + \ldots + \binom{n}{k} \cdot p^k \cdot q^{n-k} + \ldots +$$

$$+ \ldots + \binom{n}{n} \cdot p^n \cdot q^0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د برنولي درسي جمله ده.

د $n = 3$ سره پيلبيلګي لپاره باور ري:

$$P(X=0)=\binom{3}{0}\cdot\left(\frac{1}{6}\right)^0\cdot\left(\frac{5}{6}\right)^3=1\cdot1\cdot\left(\frac{5}{6}\right)^3=\frac{125}{216}\approx\underline{\underline{0,579}}$$

$$P(X=1)=\binom{3}{1}\cdot\left(\frac{1}{6}\right)^1\cdot\left(\frac{5}{6}\right)^2=\frac{3}{1}\cdot\frac{1}{6}\cdot\left(\frac{5}{6}\right)^2=\frac{75}{216}\approx\underline{\underline{0,347}}$$

$$P(X=2)=\binom{3}{2}\cdot\left(\frac{1}{6}\right)^2\cdot\left(\frac{5}{6}\right)^1=\frac{3\cdot2}{1\cdot2}\cdot\left(\frac{1}{6}\right)^2\cdot\left(\frac{5}{6}\right)=\frac{15}{216}\approx\underline{\underline{0,069}}$$

$$P(X=3)=\binom{3}{3}\cdot\left(\frac{1}{6}\right)^3\cdot\left(\frac{5}{6}\right)^0=\frac{3\cdot2\cdot1}{1\cdot2\cdot3}\cdot\left(\frac{1}{6}\right)^3\cdot1=\frac{1}{216}\approx\underline{\underline{0,0046}}$$

د بينوم وېشنه يا (په برابرو برخو) توټه کونه:

د يوه n-پوړيز برنولي – ازماېښت کې د p د بريا احتمالوالي لپاره او نابرياو احتمالوالي 1-p سره د k

برياوو لپاره باور لري:

$$P(X=k)=\binom{n}{k}\cdot p^k\cdot(1-p)^{n-k}$$

دا د احتمالوالي وېشنه د بېنوميالوېشنه بلل کيږی.

تمرين :

يوه کورنی 6 کوچنيان لري .

اتمالوالی، چې يوه نجلی وزيږوی، $p = 0,5$ دی .

د دې لپاره احتمالوالی وشمېری، چې ۶ بچيانو لاندې 0, 1, 2, 3, 4, 5, 6 نجونې دي او د احتمالوالي وېشنې هيستوګرام وکاږی. د لاندې پېښو احتمالوالی و ټاکی.

A : د کوچنيان تيک نيمايي نجونې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



B : د کوچنیانو زیات له زیاته نیمايي نجونې دي.

C : لږ ترلږه د کوچنیانو نیمايي نجونې دي.

تمرین :

یوه سیکه ۵ واره غورځول کیږي او p دې 0,5 وې.

a : د تصادفي واریابلې X احتمالوالي وېشنه وټاکی: د ممبر نښان تعداد.

b : د کوم احتمالوالي سره دا لاندې غورځول کیږي:

(1)زیات له زیاته ۳ واره ممبرنښان

(2) له ۳ ځله کم ممبر نښان

(3)لږ ترلږه ۱ ځل ممبر نښان

(4)له یوه ځل زیات ممبرنښان.

<u>Binomialverteilung</u> Kumulierte__کمولیر شوې دبینوم وېشنه

(cumulus – Anhäufung *cumulus* لاتین پنډغالي کیدنه)په سوبس کې د ټاکنو قانون کې، چې په یو ځل یو کس د ټاکنو غړونه ورکوي یا رایې اچوي.

بیلګه:

یوه سیکه 20 واره غورځول کیږي. د لاندې پېښنو، لپاره احتمالوالی شمېرل کیږي.

a : تیک 10 ځله ممبرنښان

b : زیات له زیاته 15 ځله ممبرنښان

c :لږ تر لږه 7 ځله ممبرنښان

d:لږ تر لږه 6 ځله اوزیات له زیاته 16 ځله ممبرنښان.

(c) ketabton.com: The Digital Library




دا د احتمالوالي وېشنې داتا په لاندې جدول کې رايوځای شوي.

دلته د لسميز وروسته اعداد په ۳ را ګرد شوي دي.

| k | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| P(X = k) | 0 | 0 | 0 | 0,001 | 0.005 | 0,015 | 0,037 | 0,074 | 0,12 | 0,16 | 0,176 |
| k | 11 | 12 | 13 | 14 | 15 | 16 | 17 | 18 | 19 | 20 | |
| P(X = k) | 0,16 | 0,12 | 0,074 | 0,037 | 0,015 | 0,005 | 0,001 | 0 | 0 | 0 | |

يادونه : د $k = 0, 1, 2$ حالت او $18, 19, 20$ لپاره احتمالوالی طبعاً صفر نه دی.
صفر داسې منځ ته ارځی، چې له لسميز وروسته په ۳ ځايونو کې راګرد شوی وي.

د بينوميال وېشنې هيستوګرام په لاندې توګه ليدل کيږي:




الف – احتمالوالي $P( X = 10 )$ کېدی شي دد جدول همداسې له هېستوګرام څخه ولوسستل شي.

احتمالوالی د پيښې 10 ځله ممبرنښان دی : $P(X = 10) \approx \underline{\underline{0,176}}$

ب – د پيښې لپاره احتمالوالی دی.

E : خورا زياته يا زيات له زياته ځله ممبرنښان ، تړلی ورپسې نه شي لوستل کيدی. د دې لپاره بايد د احتمالوالی د جدول ارزښتونه سره جمعه شي.

$$P( X = 0 ) + P( X = 1 ) + ... + P( X = 15)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library




که جدول ولرو په کوم کې چې احتمالوالی سره جمعه شوی دی، یعنې یوه کمولېرې جدول، نو کېدی شي د E لپاره احتمالوالی سملاسي له دې څخه ولوستل شي.

| k | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| P(X = k) | 0 | 0 | 0 | 0,001 | 0.005 | 0,015 | 0,037 | 0,074 | 0,12 | 0,16 | 0,176 |
| P(X ≤ k) | 0 | 0 | 0 | 0,001 | 0,006 | 0,021 | 0,058 | 0,132 | 0,252 | 0,412 | 0,588 |
| k | 11 | 12 | 13 | 14 | 15 | 16 | 17 | 18 | 19 | 20 | |
| P(X = k) | 0,16 | 0,12 | 0,074 | 0,037 | 0,015 | 0,005 | 0,001 | 0 | 0 | 0 | |
| P(X ≤ k) | 0,748 | 0,868 | 0,942 | 0,979 | 0,994 | 0,999 | 1 | 1 | 1 | 1 | |

یادونه : د $k < 3$ لپاره کمولېرې احتمالوالی طبعاً صفر نه دی. طبعاً د$k < 20$ لپاره ارزښتونه 1 هم نه دی. دا مګر له دې ارزښتونو څخه کم توپیر یرې، چې سرې په ډېرو حالتونو کې له عملي شمېرنو لپاره راکردشوي جدول ارزښتونه کارولای شي.

د کمولیرې بینومیال وېشنې یا توټه کونې هیستوګرام.




خورا زیات 15 ځله په دې معنا دی: $P(X \le 15) \approx \underline{\underline{0,994}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پ : لږ ترلږه 7 ځله په دې معنا دی:

$$P(X \geq 7) = P(X = 20) - P(X \leq 6) \approx 1 - 0,058 = \underline{\underline{0,942}}$$

ت : لږ ترلږه 6 ځله اوزیات له زیاته16 ځله په دې معنا دی:

$$P(6,7,...16) = P(X \leq 16) - P(X \leq 5) \approx 0,999 - 0,021 = \underline{\underline{0,978}}$$

بیلګه په ګوته کوي، چې کمولېړي جدول کومې ګټې لري، که هدف دا وي چې د یوې ساحې یا ورشو لپاره د تصادفیواریابلې X اختمالوالی و شمېرو. دا ورشو د ګڼونو یا اعدادو به وړاګه هم د انټروال په توګه انځور شوې ده.

مور لاندې حالتونه سره توپېروو:

$$P(X = k) = \binom{n}{k} \cdot p^k \cdot (1-p)^{n-k}$$

## تمرین :

یو مولټیپل چوېس تست یاازموینه له 50 پوښتنو څه د هر 5 ځوابونو سره ، چې له هغو څخه د هر یوه لپاره ټیک یو ټی:ک دی. د کوم احتمالوالي سره کېدی شي، چې فقط د سترګو لید سره د پوښتنو لاندې تعداد ته ټیک ځواب وویل شي؟

الف- له 20 پوښتنو زیات.

ب لږ ترلږه 10 اوزیات له زیاته 20 پوښتنې.

پ : له 10 پوښتنو لږ.

ت : ټیک 15 پوښتنې

د پېښېدنې احتمالوالی په پوښتنه 1/5 = 0,2 دی. دا چې دا االحتمالوالی د 50 پوښتنو څخه د هرې لپاره ستون لري، کېدی شي دا عملیه د 50 پوړیز د برنولي-احتمالوالي په څېر ترپاملاندې راشي. د کمولېړې بېنومیال وېشنې څخه وتنهAuszug د او سره دې د مرستې په څېر استعمال شي.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| k | 9 | 10 | 11 | 14 | 15 |
| $P(X \leq k)$ | 0,444 | 0,584 | 0,711 | 0,939 | 0,969 |
| k | 16 | 19 | 20 | 21 | 22 |
| $P(X \leq k)$ | 0,986 | 0,999 | 1 | 1 | 1 |

حل:یوه کورنۍ 6 کوچنیان لري .

احتمالوالی، چې یوه نجلۍ وزیږوی، p = 0,5 دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره احتمالوالی وشمېرئ، چې ۶ بچیانو لاندې 0, 1, 2, 3, 4, 5, 6 نجونې دي او د احتمالوالي وېشنې هیستوګرام وکاږئ. د لاندې پېښنو احتمالوالی و ټاکئ.

A : د کوجنیان تیک نیمایي نجوني دي.

B : د کوچنیانو زیات له زیاته نیمایي نجونې دي.

C : لږ ترلږه د کوچنیانو نیمایي نجوني دي.

دا پرابلم کېدی شي د 6 ځله برنولي ازماېښت په څېرر راوړل شي د $n = 6$ او $p = 0{,}5$ سره .

غواړو $P(X = k)$ د $k = 0, 1, 2, 3, 4, 5, 6$ لپاره پیداکړو.

$$P(X=k)=\binom{n}{k}\cdot p^k\cdot(1-p)^{n-k}$$

$$P(X=0)=\binom{6}{0}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^0\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=1\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=1\cdot\frac{1}{64}=\frac{1}{64}=\underline{\underline{0{,}015625}}$$

$$P(X=1)=\binom{6}{1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^1\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^5=6\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=6\cdot\frac{1}{64}=\frac{6}{64}=\underline{\underline{0{,}09375}}$$

$$P(X=2)=\binom{6}{2}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^2\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^4=15\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=15\cdot\frac{1}{64}=\frac{15}{64}=\underline{\underline{0{,}234375}}$$

$$P(X=3)=\binom{6}{3}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3=\frac{6\cdot5\cdot4}{3\cdot2\cdot1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=20\cdot\frac{1}{64}=\underline{\underline{0{,}3125}}$$

$$P(X=4)=\binom{6}{4}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^4\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^2=15\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=15\cdot\frac{1}{64}=\frac{15}{64}=\underline{\underline{0{,}234375}}$$


$$P(X=5)=\binom{6}{5}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^5\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^1=6\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=6\cdot\frac{1}{64}=\frac{6}{64}=\underline{\underline{0{,}09375}}$$

$$P(X=6)=\binom{6}{6}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^0=1\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=1\cdot\frac{1}{64}=\frac{1}{64}=\underline{\underline{0{,}015625}}$$

د احتمالوالي وېشنې هیستوګرام:

(c) ketabton.com: The Digital Library






د دې لپاره احتمالوالی دی، چې    $P(A) = P(X=3) = 0,3125$
د 6 کوچنیانو څخه ټیک درې نجونې دي

$$P(B) = P(X \le 3) = P(X=0) + P(X=1) + P(X=2) + P(X=3)$$
$$= \frac{1}{64} + \frac{6}{64} + \frac{15}{64} + \frac{20}{64} = \frac{42}{64} = \frac{21}{32} = \underline{\underline{0,65625}}$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې د 6 کوچنیانو څخه زیات له زیاته  درې نجونې دي

$$P(C) = P(X \ge 3) = P(X=3) + P(X=4) + P(X=5) + P(X=6)$$
$$= \frac{20}{64} + \frac{15}{64} + \frac{6}{64} + \frac{1}{64} = \frac{42}{64} = \frac{21}{32} = \underline{\underline{0,65625}}$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې د 6 کوچنیانو څخه لږ تر لږه  درې نجونې دي

حل (اوبی):

یوه سیکه ۵ واره غورځول کیږي او p  دې  0,5 وي.

a   : د تصادفي واریابلې X  احتمالوالي وېشنه وټاکی:  د ممبر نښان تعداد.

b  : د کوم احتمالوالي سره  دا لاندې غورځول کیږي:

(1)زیات له زیاته ۳ واره ممبرنښان

(c) ketabton.com: The Digital Library



(2)  له ۳ ځله کم  ممبر نښان

(3)لږ  ترلږه ۱ ځل ممبر نښان

(4)له یوه ځل زیات ممبرنښان.

داپرابلم کیدی شي د 5-پوړیز برنولي- ازماېښتپه ځېر د  $n = 5$  او  $p = 0,5$ سره راوړل شي.

الف – غوښتلکیږي  $P( X = k )$ د  $k = 0, 1, 2, 3, 4, 5$ لپاره .

| k | $P(X = k)$ |
|---|---|
| 0 | $\binom{5}{0}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{0}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5-0} = 1\cdot 1\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5} = \frac{1}{2^5} = \frac{1}{32}$ |
| 1 | $\binom{5}{1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5-1} = \frac{5}{1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{4} = 5\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5} = 5\cdot\frac{1}{2^5} = \frac{5}{32}$ |
| 2 | $\binom{5}{2}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{2}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5-2} = \frac{5\cdot 4}{2\cdot 1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{2}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{3} = 10\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5} = 10\cdot\frac{1}{2^5} = \frac{10}{32}$ |
| 3 | $\binom{5}{3}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{3}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5-3} = \frac{5\cdot 4\cdot 3}{3\cdot 2\cdot 1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{3}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{2} = 10\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5} = 10\cdot\frac{1}{2^5} = \frac{10}{32}$ |
| 4 | $\binom{5}{4}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{4}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5-4} = \frac{5\cdot 4\cdot 3\cdot 2}{4\cdot 3\cdot 2\cdot 1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{4}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{1} = 5\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5} = 5\cdot\frac{1}{2^5} = \frac{5}{32}$ |
| 5 | $\binom{5}{5}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5-5} = \frac{5\cdot 4\cdot 3\cdot 2\cdot 1}{5\cdot 4\cdot 3\cdot 2\cdot 1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{0} = 1\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5}\cdot 1 = 1\cdot\frac{1}{2^5} = \frac{1}{32}$ |

ب -

(1)  زیات له زیاته  $3$  ممبرنښان په دې معنا دی:

$$P(X \leq 3) = \frac{1}{32} + \frac{5}{32} + \frac{10}{32} + \frac{10}{32} = \frac{26}{32} = \underline{\underline{0,8125}}$$

(2)  له  $3$ کم  ځله   ممبرنښان په دې معنا دی:

$$P(X < 3) = \frac{1}{32} + \frac{5}{32} + \frac{10}{32} = \frac{16}{32} = \underline{\underline{0,5}}$$

(3)  لږ تر لږه $1$ ځل   ممبرنښان په دې معنا دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(X \geq 1) = \frac{5}{32} + \frac{10}{32} + \frac{10}{32} + \frac{5}{32} + \frac{1}{32} = \frac{31}{32} = \underline{\underline{0,96875}}$$

(4) له 1ځل زيات ممبرنښان په دې معنا دی:

$$P(X > 1) = \frac{10}{32} + \frac{10}{32} + \frac{5}{32} + \frac{1}{32} = \frac{26}{32} = \underline{\underline{0,8125}}$$

د تمرين ځواب:

يو مولتيپل چوېس تست ياازموينه له 50 پوښتنو څه د هر 5 ځوابونو سره ، چې له هغو څخه د هر يوه لپاره ټيک يو تې:ک دی. د کوم احتمالوالي سره کېدی شي، چې فقط د سترګو ليد سره د پوښتنو لاندې تعداد ته ټيک ځواب وويل شي؟

الف- له 20 پوښتنو زيات.

ب لږ ترلږه 10 اوزيات له زياته 20 پوښتنې.

پ : له 10 پوښتنو لږ.

ت : ټيک 15 پوښتنې

د پيښېدنې احتمالوالی په پوښتنه 0,2 = 1/5 دی. دا چې دا احتمالوالی د 50 پوښتنو څخه د هرې لپاره ستون لري، کېدی شي دا عمليه د 50 پوړيز د برنولي-احتمالوالي په څېر ترپاملاندې راشي. د کمولېرې بېنوميال وېشنې څخه وتنهAuszug د او سره دې د مرستې په څېر استعمال شي.

| k | 9 | 10 | 11 | 14 | 15 |
|---|---|---|---|---|---|
| $P(X \leq k)$ | 0,444 | 0,584 | 0,711 | 0,939 | 0,969 |
| k | 16 | 19 | 20 | 21 | 22 |
| $P(X \leq k)$ | 0,986 | 0,999 | 1 | 1 | 1 |

الف - $P(X \geq 21) = P(X = 50) - P(X \leq 20) = 1 - 1 = \underline{\underline{0}}$

د دې لپاره احتمالوالی چې توکلي د 20 پوښتنو ټيک يا صحيح ځواب ورکړوله 0,001 (0,1%)کوچنی دی.

ب –

$$P(10 \leq k \leq 20) = P(X \leq 20) - P(X \leq 9) = 1 - 0,444 = \underline{\underline{0,556}}$$

د توکلي ښوونې سره چې لږ ترلږ 10 پوښتنې او زيات له زياته 20 پوښتنې ټيک ځواب کړو (56,5%) 0,565 دی.

پ - $P(X \leq 9) = 0,444$ د جدول څخه سيده لوستلکيږي:

د دې لپاره احتمالوالی چې د توکلي ويېنې سره لږ تر لږه10 او زيات له زياته 20 پوښتنې ټيک ځواب شي .(56,5%) 0,565 دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ت – $P(X = 15) = P(X \leq 15) - P(X \leq 14) = 0{,}969 - 0{,}939 = \underline{\underline{0{,}03}}$

د دې لپاره احتمالوالی چې ټیک 15 پوښتنې سمې ځواب شي .(3%) 0,03 دی.

## د بینومیال وېشنې یا خورونې ته پوښتنې I

لومړی – دا کلمې روښانه کړئ: د برنولی -تجربه، د پېښېدنې احتمالوالی، د برنولی- ځنځېر او د برنولی زنځیر اوږدوالی

دویم – د لاندې تصادفي تجربې څخه یې کرمه د برنولی زنځیر دی؟ که ممکن وي د پېښېدنې احتمالوالی p ورکړئ او د برنولي –زنځیر اوږدوالیn هم ورکړئ.

الف – یو سترګیز مکعب درېواره غورځول کیږي او د شپږمو تعداد لیکل کیږي.

ب – یو سترګیز مکعب درېواره غورځول کیږي او د سترګیو جمعه لیکل کیږي..

پ –د یوه مرتبان څخه ۳ سپین او ۷ سره غونډاری( غونډوسکې) تر هغې راوستل کیږي، بې له بېرته وراچونې چې لومړی سور غونډاری را ښکاره شي.

ت ـ د یوه مرتبان څخه ۳ سپین او ۷ سره غونډاری( غونډوسکې) ۴ –ځله د بېرته وراچونې چې سره راوستل کیږي.

ټ – د یوه بحت څرخ 50% ټولو حالتونو کې یو 1 راڅرګندیږي.، په هر 25% حالتونو کې یو2 همداسې3 . دا څرخ څلورواره څرخول کیږی او عددونه د څلور ځایېز عدد په څېر لیکل کیږي

ث – له (ټ) څه یو د بخت څرخ اته واره څرخول کیږي، که ۳ راڅرګند شي،نو سړی 10 سنته ګټي.

ج – د بخت څرخ له (ټ) څخه تر هغې څرخول کیږي، ترڅو ۳ راڅرګند شي، زیات له زیاته ۵ ځله.

دریم – یو څرخ درې برابر لویې ټوټې ( قطعې) د نخښو ګردی( دایره) چلیپا او ستوری لري. دا څلورواره څرخول کیږي. د لاندې پېښو لپاره احتمالوالی څومره لوي دی؟

: درېواره ستوری را منځ ته کیږي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



: لږ تر لږه درېواره ستوری را منځ ته کيږي.f.

: زيات له زيته يو وار ستوری را منځ ته کيږي..

: زيات له زياته درېواره ستوری را منځ ته کيږي..

څلورم – د شفتالانو د يوه لوی بار څخه 20% خټا شوي. له دې څخه 5 دانې راوستل کيږی. د لاندې پېښې لپاره احتمالوالی څومره لوي دی؟

: يو شفتالو خټا دی.

: ټول شفتالان روغ دي.

: لږ ترلږه دوه شفتالان خټا دي.

پنځم –

د يوې نجلی د زيږېدنې لپاره احتمالوالی0,49 دی، يوهلک د زيږېدنې لپاره 0,51 . احتمالوالی څومره لوي دی، چې په يوه کورنۍ کې د څلورو کوچنيانو څخه

: تيک دوهنجونې دي؟

: زيات له زياته درې نجونې دي؟

شپږم – يوه پيسه لږ تر لږه بايد څو واره وغورځول شي، چې لږ تر لږه د 99% يوه احتمالوالي سره يو ځل ګڼ يا عدد لاس ته راشي؟

اوم – څوواره بايد لږ تر لږه يو سترګيز مکعب و غورځول شي چې لږ تر لږه د90% احتمالوالي سره لږ تر لږه يو شپږ لاس ته راشي؟

اتم – يو مکعب 60 واره غورځول کيږي.

د لاندې پېښو لپاره احتمالوالی ځومره لوي دی؟

: سړی تيک 10 واره 6 وغورځوي.

: سړی لږ تر لږه 10 واره 6 وغورځوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



: سړی زيات له زياته 10 واره 6 وغورځوي

. : د غورځول شوو ۶ تعداد د ۶ او ۱۲ ( په شمول) ترمنځ پروتدی

: سړی له ۴ زيات او له ۱۵ لږ ۶ اچوي.

: د 25 حالتونو څخه لږو کې د سترګيو عدد ناجوړه( طاق) عدد دی.

: د30 حالتونو څخه زياتوکې د سترګيو عدد جوړه ( جفت) دی.

: له 25 څخه زيات او له 35 څخه لږ ناجوړه د سترګيو عدد رامنځ ته کيږي.

## ځوابونه -

## د بينوميالوېشنې I
## نتيجې او مفصل حلونه
### نتيجې

لومړی- د برنولي-تجربه يوه د تصادف تجربه ده، چې فقط دوه نتيجې لري. نتيجې بريا ( رامنځ ته کېدنه ) يا نابريا ( نه رامنځ ته کيونه) بلل کيږي.
د پيښې يا رامنځ ته کېدنې احتمالوالی د يوه رامنځ ته کېدنې (p) لپاره احتمالوالی دی.
يو برنولی زنځېر رامنځ ته کيږي، که برنولي –تجربه ډېرواره يو په بل پسې تکرار شي.
د برنولي زنځېر اوږدوالی راکوي، چې دا يوګونې تجربه يو په بل پسې څومره تکراريږي.
دويم –

الف – برنولي زنځير3 = n ، رامنځ ته کېدنه: 6 ، $p = 1/6;$
ب – د برنولي زنځير نه شته.
پ – د برنولي زنځير نه شته.
ت – د برنولي زنځير : 4 = n، رامنځ ته شوی : سپين $p = 3/10$ ، رامنځ ته شوی: سور $p = 7/10$ .
ټ- د برنولي زنځير نه شته.
ث – برنولي زنځير8 = n ، رامنځ ته شوی: عدد3، $p = 0,25$
ج- د برنولي زنځير، رامنځ ته شوي: 3 ، $p = 0,25$،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زنځېراوړدوالی ماکسیمال 5.

دریم –

$$P(A)=P(X=3)=\frac{8}{81}\approx \underline{\underline{0{,}0988}} \qquad P(B)=P(X\geq 3)=\frac{1}{9}=\underline{\underline{0{,}\bar{1}}}$$

$$P(C)=P(X\leq 1)=\frac{48}{81}\approx \underline{\underline{0{,}5926}} \qquad P(D)=P(X\leq 3)=\frac{80}{81}\approx \underline{\underline{0{,}9877}}$$

څلورم –

$$P(A)=P(X=1)=\underline{\underline{0{,}4096}};\ P(B)=P(X=0)=\underline{\underline{0{,}32768}};$$

$$;\ P(C)=P(X\geq 2)=\underline{\underline{0{,}26272}}$$

پنځم -

$$P(A)=P(X=2)\approx \underline{\underline{0{,}3747}} \qquad P(B)=P(X\leq 3)\approx \underline{\underline{0{,}9424}}$$

شپږم – سیکه باید لږ تر لږه 7 ځله وغورځول شي، چې د 99% اطمنان سره لږ تر لږه یو ځل عدد یا ګڼ لاس ته راوړو.

اوم- با ید مکعب لږ تر لږه 13 ځله وغورځول شي، چې د 90% احتمالوالی سره لږ تر لږه یو6 وغورځول شي.

اتم -

| | |
|---|---|
| سړی تیک10 ځله 6 غورځوي | $P(A)=P(X=10)\approx 0{,}137$ |
| سړی لږ تر لږه10 ځله 6 غورځوي | $P(B)=P(X\geq 10)\approx 0{,}554$ |
| سړی زیات له زیاته 10 ځله 6 غورځوي | $P(C)=P(X\leq 10)\approx 0{,}583$ |
| د غورځولو شپږو تعداد د6 او 12 (په شمول)تر منځ پروتدی | $P(D)=P(6\leq X\leq 12)\approx 0{,}759$ |
| سړی له 4 زیات او له 15 لږ شپږ غورځوي. | $P(E)=P(5\leq X\leq 14)\approx 0{,}915$ |
| د سترګیو تعداد له 25 څخه کمو حالتونو کې ناجوړه دی | $P(F)=P(X\leq 24)\approx 0{,}078$ |
| د سترګیو تعداد له 30 څخه زیاتو حالتونو کې جوړه دی. | $P(G)=P(X\geq 31)\approx 0{,}449$ |
| له 25 څخه زیات او له 35څخه کم ناجوړه د سترګیو تعداد راوځي | $P(H)=P(26\leq X\leq 34)\approx 0{,}754$ |

مفصل ځوابونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی - د برنولي-تجربه یوه د تصادف تجربه ده، چې فقط دوه نتیجې لري. نتیجې بریا ( رامنځ ته کېدنه ) یا نابریا ( نه رامنځ ته کیونه) بلل کیږي.
د پیښې یا رامنځ ته کیدنې احتمالوالی د یوه رامنځ ته کیدنې (p) لپاره احتمالوالی دی.
یو برنولی زنځیر رامنځ ته کیږي، که برنولي –تجربه ډېرواره یو په بل پسې تکرار شي.
د برنولي زنځیر اوږدوالی راکوي، چې دا یوګونې تجربه یو په بل پسې څومره تکراریږي.
بیلګه ؛ یوه سیکه 100 ځله یو په بل پسې غورځول کیږي. د سیکې عورځونه یو د برنولي تجربه ده، دوه نتیجې شته، عدد او سر( ممبرنښان). د منځ ته راتګ احتمالوالی p = 0,5 دی. دا چې د پیسې غورځونه 100 ځله تکراریږی، نو دا تجربه د برنولي زنځیر په نامه یادیږي. د دې برنولي زنځیر اوږدوالی100 = n دی.
دویم –
الف – دا دبرنولي زنځیر د 3 = n اودوالي سره دی. پیښه ۶ راوتنه بولو. د راوتنې احتمالوالی په هره پوړی کې د 1/6 = p سره برابر دی.
ب- دا دبرنولي زنځیر نه دی، ځکه په هرې پوړی کې6 مختلفې پېښې پېښېدی شي . { 6 ; 5 ; 4 ; 3 ; 2 ;1 }. د یوه برنولي زنځېر لپاره فقط د دوه وو اجازه شته.
پ – دا د برنولي زنځیر نه دی، ځکه چې غونډاري بېرته نه ایښول کیږي او له دې سره لهپوړی و پوړی ته احتمالوالی تغیر خوري. د برنولی زنځیر لپاره احتمالوالی باید د یوه منځ ته راتګ لپاره په هره پوړی کې برابر وی.
ت – دا د برنولي زنځیر دی د اوږدوالي 4 = n سره. د سپین منځ ته راتګ لپاره د بېرته ور اچونې لپاره احتمالوالی ثابت 3/10 = p دی، او د سره منځ ته راتګ لپاره p = 7/10 دی.
ټ – دا د برنولي زنځیرنه دی، ځکه چې په هره پوړی کې درې نتیجې{ 3 ; 2 ; 1 } لاس ته راتلی شي. د برنولي زنځیر کې به هره پوړی کې فقط دوه نتیجې لاس ته راتلیشي.
ث – دا د برنولي زنځیر دی د اوږدوالي 8 = n سره. د منځ ته راتګ په حیث ۳ عدد د p = 0,25 سره کره شوي. په هره پوړی کې احتمالوالی ثابت پاتیږي.
ج – دا د بنولي زنځېر دی د نه کره ټاکلي اوږدوالي سره. د رمنځ ته کېدنې عدد ۳ کره شوی د احتمالوالي 0,25 = p سره. د زنځیر ماکسیمال اوږدوالی 5 دی.

دریم -

$$P(A) = P(X=3) = \binom{4}{3} \cdot \left(\frac{1}{3}\right)^3 \cdot \left(\frac{2}{3}\right)^1 = 4 \cdot \frac{1}{27} \cdot \frac{2}{3} = \frac{8}{81} \approx \underline{\underline{0,0988}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې ټیک ۳ واره ستوری رامنځ ته کیږي، 0,0988 دی.

$$P(B) = P(X \geq 3) = P(X=3) + P(X=4)$$

$$= \frac{8}{81} + \binom{4}{4} \cdot \left(\frac{1}{3}\right)^4 \cdot \left(\frac{2}{3}\right)^0 = \frac{8}{81} + 1 \cdot \frac{1}{81} \cdot 1 = \frac{8}{81} + \frac{1}{81} = \frac{9}{81} = \frac{1}{9} = \underline{\underline{0,\bar{1}}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې لږ تر لږه درې ځله ستوری راځنځ ته کیږي، ...0,1111 دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(C)=P(X\le 1)=P(X=0)+P(X=1)$$
$$=\binom{4}{0}\cdot\left(\frac{1}{3}\right)^0\cdot\left(\frac{2}{3}\right)^4+\binom{4}{1}\cdot\left(\frac{1}{3}\right)^1\cdot\left(\frac{2}{3}\right)^3$$
$$=1\cdot 1\cdot\frac{16}{81}+4\cdot\frac{1}{3}\cdot\frac{8}{27}=\frac{16}{81}+\frac{32}{81}=\frac{48}{81}\approx\underline{\underline{0,5926}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې زيات له زياته يو وار ستوری رامنځ ته کيږي، 0,5926 دی.

$$P(D)=P(X\le 3)=P(X\le 4)-P(X=4)=1-P(X=4)$$
$$=1-\binom{4}{4}\cdot\left(\frac{1}{3}\right)^4\cdot\left(\frac{2}{3}\right)^0=1-1\cdot\frac{1}{81}\cdot 1=\frac{81}{81}-\frac{1}{81}=\frac{80}{81}\approx\underline{\underline{0,9877}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې زيات له زياته درې واره ستوری رامنځ ته کيږي، 0,5926 دی.

څلورم - رامنځ ته کيدنه: شفتالو خڅا دی. $n=5\ ;\quad p=20\%\Rightarrow p=\frac{1}{5}$
:

$$P(A)=P(X=1)=\binom{5}{1}\cdot\left(\frac{1}{5}\right)^1\cdot\left(\frac{4}{5}\right)^4=5\cdot\frac{1}{5}\cdot\frac{256}{625}=\frac{1280}{3125}=\frac{256}{625}=\underline{\underline{0,4096}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې ټيک يو شفتالو خوڅا دی،0,4096 دی.

B : ټول شفتالان روغ يا سم دي، کوم شفتالو خوڅا نه دی.

$$P(B)=P(X=0)=\binom{5}{0}\cdot\left(\frac{1}{5}\right)^0\cdot\left(\frac{4}{5}\right)^5=1\cdot 1\cdot\frac{1024}{3125}=\underline{\underline{0,32768}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې لږ تر لږه دوه شفتالان ټيک دي، 0,32768 دی.

$$P(C)=P(X\le 5)-P(X=1)-P(X=0)$$
$$=1-\frac{1280}{3125}-\frac{1024}{3125}=\frac{3125-1280-1024}{3125}=\frac{821}{3125}=\underline{\underline{0,26272}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې لږ تر لږه دوه شفتالان خوڅا دي،0,26272 دی.

پنځم –

$$P(A)=P(X=2)=\binom{4}{2}\cdot\left(\frac{49}{100}\right)^2\cdot\left(\frac{51}{100}\right)^2=6\cdot\left(\frac{49\cdot 51}{100\cdot 100}\right)^2$$
$$=6\cdot\frac{6.245.001}{100.000.000}=\frac{37.470.006}{100.000.000}\approx\underline{\underline{0,3747}}$$

د دې لپارهاحتمالوالی،چې په فاميل کې ټيک دوه نجونه دي، 0,3747 دی.

$$P(B)=P(X\le 3)=P(X\le 4)-P(X=4)=1-P(X=4)=$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$= 1-\binom{4}{4}\cdot\left(\frac{49}{100}\right)^4\cdot\left(\frac{51}{100}\right)^0$$

$$= 1-1\cdot\left(\frac{49}{100}\right)^4\cdot 1 = 1-\frac{5.764.801}{100.000.000} = \frac{100.000.000-5.764.801}{100.000.000}$$

$$= \frac{94.235.199}{100.000.000} \approx \underline{\underline{0,9424}}$$

د دې لپاره احتمالوالی،چې په کورنۍ کې زیات له زیاته درې نجونې دي، 0,9424 دی.

شپږم –

د ممبرنښان او عدد لپاره امکانات برابر دي($p = 0,5$) . برعکس پېښه چې لږ تر لږه یو ځل ممبرنښان دی، چې هیڅ ځل عدد نه دی.

باور لري $P(X \geq 1) \geq 0,99$ همداسې د برعکس پېښې لپاره $P(X=1) \leq 0,01$ دی.

$$P(X=0) = \binom{n}{0}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^0\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{n-0} = 1\cdot 1\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^n = \left(\frac{1}{2}\right)^n$$

$$P(X=0) \leq 0,01 \Leftrightarrow \left(\frac{1}{2}\right)^n \leq 0,01|$$

لوګارتمونه د بېلګې په توګه د ln سره.

$$\Leftrightarrow n\cdot\ln\left(\frac{1}{2}\right) \leq \ln(0,01)|:\ln\left(\frac{1}{2}\right)$$

( په پام کې ولرئ، چې $\ln\left(\frac{1}{2}\right)$ کمیز یا منفي دی)

$$\Leftrightarrow n \geq \frac{\ln(0,01)}{\ln\left(\frac{1}{2}\right)} \approx 6,64$$

سیکه باید لږ تر لږه 7 ځله وغورځول شي، چې د99% اطمنان یا تضمین سره لږ تر لږه یو ځل ممبرنښان لاس ته راوړی شو.

اوم – A : دn غورځولو سره لږ تر لږه یو6 .$p = 1/6$ $E = \{ 1; 2 ; 3 ; ... n \}$

دA برعکس پېښه ده: دn غورځول سره نه 6 یا 6 نه .

د لاندې الماني پښتو: لوګارتمونه، بڼه بذلون

$$P(A) = 1-P(\overline{A}) = 1-\binom{n}{0}\cdot\left(\frac{1}{6}\right)^0\cdot\left(\frac{5}{6}\right)^n = 1-1\cdot 1\cdot\left(\frac{5}{6}\right)^n = 1-\left(\frac{5}{6}\right)^n$$

$$P(A) \geq 0,9 \Leftrightarrow 1-\left(\frac{5}{6}\right)^n \geq 0,9|-1$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\Leftrightarrow -\left(\frac{5}{6}\right)^n \geq -0,1| \cdot (-1)$$

$$\Leftrightarrow \left(\frac{5}{6}\right)^n \leq 0,1||$$

لوګاریتم یې ونیسئ

$$\Leftrightarrow \ln\left(\frac{5}{6}\right)^n \leq \ln(0,1)|$$

بنه بدل کړئ

$$\Leftrightarrow n \cdot \ln\left(\frac{5}{6}\right) \leq \ln(0,1)| : \ln\left(\frac{5}{6}\right) \qquad \ln\left(\frac{5}{6}\right) < 1$$

$$\Leftrightarrow n \geq \frac{\ln(0,1)}{\ln\left(\frac{5}{6}\right)} \approx 12,6$$

سړی باید 13 ځله وغورځوي، چې د یوه لږ ترلږه 90% احتمالوالي سره لږ تر لږه یوځل شپږ وغورځوي.

اتم – د n=60 او P=1/6 لپاره کومولیر یا سره راټول شوې بینوموېشنه.

| k | $P(X \leq k)$ | k | $P(X \leq k)$ | k | $P(X \leq k)$ | k | $P(X \leq k)$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0 | 0,000 | 4 | 0,020 | 8 | 0,312 | 12 | 0,810 |
| 1 | 0,000 | 5 | 0,051 | 9 | 0,446 | 13 | 0,885 |
| 2 | 0,001 | 6 | 0,108 | 10 | 0,583 | 14 | 0,935 |
| 3 | 0,006 | 7 | 0,196 | 11 | 0,708 | 15 | 0,966 |

| k | $P(X \leq k)$ | k | $P(X \leq k)$ |
|---|---|---|---|
| 16 | 0,984 | 20 | 1,000 |
| 17 | 0,993 | 21 | 1,000 |
| 18 | 0,997 | 22 | 1,000 |
| 19 | 0,999 | 23 | 1,000 |

سړی ټیک 10 ځله 6 غورځوي.

$$P(A) = P(X = 10) = P(X \leq 10) - P(X \leq 9) = 0,583 - 0,446 = 0,137$$

سړی لږ ترلږه 10 ځله 6 غورځوي

$$P(B) = P(X \geq 10) = 1 - P(X \leq 9) = 1 - 0,446 = 0,554$$

سړی زیات له زیاته 10 ځله 6 غورځوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



$P(C) = P(X \le 10) = 0,583$ له جدول لوستل کیږي.

سړی زیات له زیاته 10 ځله 6 غورځوي

$P(C) = P(X \le 10) = 0,583$ له جدول خخه دلوستل کیږی.

د غورځول شوو شپږ تعدادد ۶ او ۱۲ په شمول ترمنځ کې پروت دی.

$$P(D) = P(6 \le X \le 12) = P(X \le 12) - P(X \le 5) = 0,810 - 0,051 = 0,759$$

: سړی له ۴ کم او له ۱۵ زیات ۶ غورځوي.

$$P(E) = P(5 \le X \le 14) = P(X \le 14) - P(X \le 4) = 0,935 - 0,020 = 0,915$$

: د 25حالتون څخه زیاتو کې د سترګیو عدد ناجوړه (طاق) دی.

$P(F) = P(X \le 24) = 0,078$ له جدول لوستل شوی.

: د30 حالتو څخه زیاتو کې د سترګی عدد جوړه دی.

$$P(G) = P(X \ge 31) = 1 - P(X \le 30) = 1 - 0,551 = 0,449$$

: له ۲۵ څخه زیات او له ۳۵ څخه لږ د سترګیو عدد رامنځ ته کیږي.

$$P(H) = P(26 \le X \le 34) = P(X \le 34) - P(X \le 25) = 0,877 - 0,123 = 0,754$$

## پوښتنې

## بینومیال وېشنه II

لومړی – یوه کورنی ۶کوچنیان لري. دیوې نجلې زیږېدنې لپاره احتمالوالی $p = 0,5$ دی.

د دې لپاره احتمالوالی وشمیری، چې د ۶ کوچنیانو ترمنځ 0, 1, 2, 3, 4, 5, 6 نجونې دي او د احتمالوالي وېشنې هېستوګرام وکاږئ.

د لاندې پیښو لپاره احتمالوالی وشمېرئ:

: د کوچنیان نټیکنیمایي نجونې دي.

: د کوچنیان زیات له زیاته نیمایي نجونې دي.

: د کوچنیان لږ تر لګه نیمایي نجونې دي.

دویم –

سیکه ۵ ځله غورځول کیږي. P دلته 0,5 ده.

الف – د X تصادفي واریابلې یا اووښتونې د احتمالوالي وېشنه وټاکی: د ممبرنښان تعداد.

ب – د کوم احتمالوالي سره سړی غورځوي

(۱) زیات له زیاته ۳ ځله ممبرنښان؟

(۲) له ۳ ځله کم ممبرنښان؟

(۳) لږتر لږه یو ۳ ځله ممبرنښان؟

(۴)زیات له یو ځله ممبرنښان؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم - یوه سیکه 20 ځله ِورځول کیږي
الف – د بینومیالوېشني هیستوګرام وکاږی.
ب – دلاندې پېښو لپاره احتمالوالی ټاکل کیږي.
(1) تیک ۱۰ځله ممبرنښان.
(2) زیات له زیاته ۱۵ ځله ممبرنښان.
(3) لږ تر لږه ۷ ځله ممبرنښان.
(4) لو تر لږه ۶ ځله اوزیات له زیاته ۱۶ ځله ممبرنښان.
پ- د کمولر شوي احتمالوالي وېشني هیستګرام وکاږی.
څلورم –
یو Multiple- Choice- Test له 50پوښتنو او ۵ ځوابونو څخه جوړدی، چې له هغو د هر یوه لپاره تیک یو سم ځواب دی. د کوم احتمالوالي سره کېدی شي د سترګو لید له لارې توکلي لاندې د پوښتنې سمې ځواب کړي؟
الف – له ۲۰ زیاتې پوښتنې.
ب – لږ تر لږه ۱۰ او زیات له زیاته ۲۰ پوښتنې
پ – له لسو پوښتنو کم.
ت – تیک ۱۵ پوښتنې.

د هرې پوښتنې سره دپیښیدنې احتمالوالی $0,2 = 1/5$ دی، دا چې دا احتمالوالی د دې ۵۰ پوښتنو هرې یوې سره شته دی، کیدی شي دا عملیه د ۵۰ پوړیزې برنولي ازماېښت په څیرو ګڼل شي.

د $n = 50$ او $p = 0,2$ سره راوتنه د کمولیرشوي برنولي وېشنه باید مرستې په څېر استعمال شي. .

| k | 9 | 10 | 11 | 14 | 15 |
|---|---|---|---|---|---|
| $P(X \le k)$ | 0,444 | 0,584 | 0,711 | 0,939 | 0,969 |
| k | 16 | 19 | 20 | 21 | 22 |
| $P(X \le k)$ | 0,986 | 0,999 | 1 | 1 | 1 |

## ځوابونه

د بینوموېشنه II
مفصل ځوابونه . لومړی –
دا پرابلم د ۶ –پوړیز ې برنولي –تجربې په څیر کیدی شي رواړل شي د $n = 6$ او $p = 0,5$ سره .
غوښتونی$P(X = k)$ د $k = 0, 1, 2, 3, 4, 5, 6$ الپاره

$$P(X = k) = \binom{n}{k} \cdot p^k \cdot (1-p)^{n-k}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(X=0)=\binom{6}{0}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3=1\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=1\cdot\frac{1}{64}=\frac{1}{64}=\underline{\underline{0{,}015625}}$$

$$P(X=1)=\binom{6}{1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3=6\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=6\cdot\frac{1}{64}=\frac{6}{64}=\underline{\underline{0{,}09375}}$$

$$P(X=2)=\binom{6}{2}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3=15\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=15\cdot\frac{1}{64}=\frac{15}{64}=\underline{\underline{0{,}234375}}$$


$$P(X=3)=\binom{6}{3}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3=\frac{6\cdot5\cdot4}{3\cdot2\cdot1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=20\cdot\frac{1}{64}=\underline{\underline{0{,}3125}}$$

$$P(X=4)=\binom{6}{4}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3=15\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=15\cdot\frac{1}{64}=\frac{15}{64}=\underline{\underline{0{,}234375}}$$

$$P(X=5)=\binom{6}{5}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3=6\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=6\cdot\frac{1}{64}=\frac{6}{64}=\underline{\underline{0{,}09375}}$$

$$P(X=6)=\binom{6}{6}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^3=1\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^6=1\cdot\frac{1}{64}=\frac{1}{64}=\underline{\underline{0{,}015625}}$$

د احتمالوالي وېشنې هيستوګرام




:

$$P(A)=P(X=3)=\underline{\underline{0{,}3125}}$$

د دې لپاره احتمالوالی دی ، چې د ۶ کوچنیانو ښځه ټیک درې نجونې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(B) = P(X \le 3) = P(X=0) + P(X=1) + P(X=2) + P(X=3)$$
$$= \frac{1}{64} + \frac{6}{64} + \frac{15}{64} + \frac{20}{64} = \frac{42}{64} = \frac{21}{32} = \underline{\underline{0{,}65625}}$$

د دې لپاره احتمالوالی دی ، چې د ۶ کوچنیانو څخه زیات له زیاته درې نجونې دي
:

$$P(C) = P(X \ge 3) = P(X=3) + P(X=4) + P(X=5) + P(X=6)$$
$$= \frac{20}{64} + \frac{15}{64} + \frac{6}{64} + \frac{1}{64} = \frac{42}{64} = \frac{21}{32} = \underline{\underline{0{,}65625}}$$

د دې لپاره احتمالوالی دی ، چې د ۶ کوچنیانو څخه لږ تر لږه درې نجونې دي

دویم – دا پرابلم د 5 –پوړیز ې برنولي –تجربې په څیر رواړل شي د $n = 5$ او $p = 0{,}5$ سره الف - غوښتونی $P(X = k)$ د $k = 0, 1, 2, 3, 4, 5$ لپاره

| k | $P(X=k)$ |
|---|---|
| 0 | $\binom{5}{0}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{0}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5-0} = 1\cdot 1\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5} = \frac{1}{2^5} = \frac{1}{32}$ |
| 1 | $\binom{5}{1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5-1} = \frac{5}{1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{4} = 5\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5} = 5\cdot\frac{1}{2^5} = \frac{5}{32}$ |
| 2 | $\binom{5}{2}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{2}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5-2} = \frac{5\cdot 4}{2\cdot 1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{2}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{3} = 10\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5} = 10\cdot\frac{1}{2^5} = \frac{10}{32}$ |
| 3 | $\binom{5}{3}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{3}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5-3} = \frac{5\cdot 4\cdot 3}{3\cdot 2\cdot 1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{3}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{2} = 10\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5} = 10\cdot\frac{1}{2^5} = \frac{10}{32}$ |
| 4 | $\binom{5}{4}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{4}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5-4} = \frac{5\cdot 4\cdot 3\cdot 2}{4\cdot 3\cdot 2\cdot 1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{4}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{1} = 5\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5} = 5\cdot\frac{1}{2^5} = \frac{5}{32}$ |
| 5 | $\binom{5}{5}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5-5} = \frac{5\cdot 4\cdot 3\cdot 2\cdot 1}{5\cdot 4\cdot 3\cdot 2\cdot 1}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5}\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{0} = 1\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^{5}\cdot 1 = 1\cdot\frac{1}{2^5} = \frac{1}{32}$ |

ب - (1)

زیات له زیاته درې واره ممبرنښان په دې معناچې:

$$P(X \le 3) = \frac{1}{32} + \frac{5}{32} + \frac{10}{32} + \frac{10}{32} = \frac{26}{32} = \underline{\underline{0{,}8125}}$$

(2)

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دري واره کم ممبرنښان په دې معناچې:

$$P(X < 3) = \frac{1}{32} + \frac{5}{32} + \frac{10}{32} = \frac{16}{32} = \underline{\underline{0,5}}$$

(۳) لږ تر لږه يو واره ممبرنښان په دې معناچې:

$$P(X \geq 1) = \frac{5}{32} + \frac{10}{32} + \frac{10}{32} + \frac{5}{32} + \frac{1}{32} = \frac{31}{32} = \underline{\underline{0,96875}}$$

(4)


له يو وار زيات ممبرنښان په دې معناچې:

$$P(X > 1) = \frac{10}{32} + \frac{10}{32} + \frac{5}{32} + \frac{1}{32} = \frac{26}{32} = \underline{\underline{0,8125}}$$

دريم –

الف –

د n = 20 او p = 0,5 لپاره د بېنوموېشني هيستوګرام




ب –

(۱) احتمالوالی P(X = 10) کېدی شي له جدل يا همداسې له هيستوګرام څخه ولوستل شي.

د پيښې 10 واره ممبرنښان لپاره احتمالوالی دی: P(X=10)~ 0,176

(۲) د پېښې لپاره احتمالوالی

E : زيات له زياته ۱۵ واره ممبرنښان، نهشي کېدی ترلی و لوستل شي. د دې لپاه د احامالوالي د جدول بايد سره جمعه شوي وي.

P(X = 0) + P(X = 1) + ... + P(X = 15)

که يو جدول شتون ولري، چې به هغه کې احتمالوالی تيار جمعه شوی وي، يعنې اکومولېري جدول، نو کېدی شي د E لپاره له دې څخه احتمالوالی فوراً ولوستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| k | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $P(X=k)$ | 0 | 0 | 0 | 0,001 | 0.005 | 0,015 | 0,037 | 0,074 | 0,12 | 0,16 | 0,176 |
| $P(X\le k)$ | 0 | 0 | 0 | 0,001 | 0,006 | 0,021 | 0,058 | 0,132 | 0,252 | 0,412 | 0,588 |
| k | 11 | 12 | 13 | 14 | 15 | 16 | 17 | 18 | 19 | 20 | |
| $P(X=k)$ | 0,16 | 0,12 | 0,074 | 0,037 | 0,015 | 0,005 | 0,001 | 0 | 0 | 0 | |
| $P(X\le k)$ | 0,748 | 0,868 | 0,942 | 0,979 | 0,994 | 0,999 | 1 | 1 | 1 | 1 | |

یادونه : د $k<3$ لپاره کومولیري احتمالوالی طبعاً صفر نه دی. همداسي د $k<20$ لپاره هم1 نه دی. دا له دې ارزښتون څخه نه توپیرېږي، داسې چې په زیاتو حالتونو کي د عملي شمېرني لپاره د جدول راکړشوي ارزښتونه استعمالېدای شي.

زیات له زیاته ۱۵ واره په دې معنادی $P(X\le 15)\approx \underline{\underline{0,994}}$


(۳) لږ تر لږه ۷ ځله په دې معنا دی.

$$P(X\ge 7)=P(X=20)-P(X\le 6)\approx 1-0,058=\underline{\underline{0,942}}$$

(۴) لږ تر لږه ۶ وارره او زیات له زیاته ۱۶ واره په دې معنا دی:

$$P(6,7,...16)=P(X\le 16)-P(X\le 5)\approx 0,999-0,021=\underline{\underline{0,978}}$$

پ – د کومولیري احتمالوالي وېشنې هیستوگرام



(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلږرم –

الف - $P(X \geq 21) = P(X = 50) - P(X \leq 20) = 1 - 1 = \underline{\underline{0}}$

احتمالی چې په غړولو سترګو توکلي له 20 پوښتنو زیاتي سمي ځواب شي له 0,001 (0,1%)څخه کوچنی دی.

ب – $P(10 \leq k \leq 20) = P(X \leq 20) - P(X \leq 9) = 1 - 0,444 = \underline{\underline{0,565}}$

احتمالی چې په غړولو سترګو توکلي له لږ تر لږه 10 او زیات لهزیاته 20 پوښتنو سمي ځواب شي (56,5%) 0,565 دی.

پ – $P(X \leq 9) = 0,444$ له جدول څخه سیده لوستل کیږي

احتمالی چې په غړولو سترګو توکلي له 10 پوښتنو کم سمي ځواب شي 0,444 (44,4%) دی

ت - $P(X = 15) = P(X \leq 15) - P(X \leq 14) = 0,969 - 0,939 = \underline{\underline{0,03}}$

احتمالی چې په غړولو سترګو توکلي تیک 15 پوښتنو سمي ځواب شي 0,03 (3%). دی

## پوښتنې
## بېنوموېشنه III

لومړی –
یوه سیکه 100 واره غورځول کیږي. د ممبرنښان او عدد هر یوه لپاره احتمالوالی p = 0,5 دی. د لاندې پېښو لپاره احتمالوالی و شمېرئ.
: تیک52 ځله ممبرنښان غورځول کیږي..
: لږ تر لږه 43 ځله ممبرنښان غورځول کیږي.
: لږ ترلږه 38 ځله او زیات له زیاته 56 ځله ممبرنښان غورځول کیږي
:له 45ځله کم ممبرنښان ورځول کیږي.
: لږ تر لږه 40 ځله او زیات له زیاته 60 ځله ممبرنښان غورځول کیږی.
: له 47 ځله زیات ممبرنښان غورځول کیږي.
: لږ ترلږه 45ځله او زیات له زیاته 55 ځله ممبرنښان غورځول کیږي.
: تیک 50 ځله عدد یا ګڼ غورځول کیږي.
دویم – په الماں کې په 50% ټولو کورنیو دوه موټر شتون لري. د پوښتنو لپاره تصادفي 100 کورنی ټاکل کیږی. د لاندې پېښو لپاره احتمالوالی وټاکئ:
: له 60 کورنیو کمو کې دوه موټر شتون لري.
: په تیک 60 کورنیو کې دوه موټر شتون لري.


(c) ketabton.com: The Digital Library



: له 40 کورنیو څخه زیاتو کې دوه موټر شتون لري
: لږ تر لږه 40 او زیات له زیاته 60 کورنیو کې دوه موټر شتونلري.
دریم – لاندې ګرافیک د بینوم وېشنه د مختلفو سیګما – چاپېریال سره ښایي

الف –
د انتظار یا اټکل ارزښت او معیاري تغیر و شمېرې
ب –
د لاندې سیګما-چاپیریال لپاره احتمالوالی وشمېرې.

$$P(\mu-\sigma \le X \le \mu+\sigma)$$
$$P(\mu-2\sigma \le X \le \mu+2\sigma)$$
$$P(\mu-3\sigma \le X \le \mu+3\sigma)$$




د بینومیالوېشنه د $n = 200$ او $p =$ 0,24 لپاره .

څلورم – لاندې ګرافیک یو بینومیال وېش ښایي په مختلفو په سلو کې چاپېریال وړانګو سره .

هره وړاګه څومره لویه ده، چې یوه95% ,90% همداسې99% چاپیریال پورې اړه ولري.؟

چاپیریال د سیګما واحد یا یوون سره افاده کړی.

$$\frac{r}{\sigma} = z \Rightarrow r = z \cdot \sigma$$



د بینومیالوېشنه د $n = 200$ او $p =$ 0,24 لپاره

ځوابونه (حلونه یا اوبیونی)

بینوموېشنه III

مفصل ځوبونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی -

دn=100 او p=0,5 لپاره کمولیري بینومیال ـوېشنه.

| k | P(X≤k) | k | P(X≤k) | k | P(X≤k) | k | P(X≤k) | k | P(X≤k) | k | P(X≤k) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 32 | 0,000 | 38 | 0,010 | 44 | 0,136 | 50 | 0,540 | 56 | 0,903 | 62 | 0,994 |
| 33 | 0,000 | 39 | 0,018 | 45 | 0,184 | 51 | 0,618 | 57 | 0,933 | 63 | 0,997 |
| 34 | 0,001 | 40 | 0,028 | 46 | 0,242 | 52 | 0,691 | 58 | 0,956 | 64 | 0,998 |
| 35 | 0,002 | 41 | 0,044 | 47 | 0,309 | 53 | 0,758 | 59 | 0,972 | 65 | 0,999 |
| 36 | 0,003 | 42 | 0,067 | 48 | 0,382 | 54 | 0,816 | 60 | 0,982 | 66 | 1,000 |
| 37 | 0,006 | 43 | 0,097 | 49 | 0,460 | 55 | 0,864 | 61 | 0,990 | 67 | 1,000 |

: ټیک 52 ځله ممبرنښان {0, ......51, 52, 53, ....., 100}

$$P(A) = P(X = 52) = P(X \le 52) - P(X \le 51) = 0,691 - 0,618 = \underline{\underline{0,073}}$$

د دې لباره احتمالوالی،چې ټیک 52 ځله ممبرنښان و غورځول شي 0,073 دی.

: لږ تر لږه 43 ځله ممبرنښان {0, .....,42, 43, 44, 45, ..... ,100}

$$P(B) = P(X \ge 43) = P(X \le 100) - P(X \le 42) = 1 - 0,067 = \underline{\underline{0,933}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې لږ تر لږه 43 ځله ممبر وغورځول شي 0,933 دی.

: لږ تر لږه 38 ځله او زیات له زیاته 56 ممبرنښان {0, .....,37, 38,..., 56, 57, ....., 100}

$$P(C) = P(38 \le X \le 56) = P(X \le 56) - P(X \le 37) = 0,903 - 0,006 = \underline{\underline{0,897}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې لږ تر لږه 38 ځله اوزیات له زیاته 56 ځله ممبرنښان وغورځول شي 0,897 دی.

: لږ تر لږه 45 ممبرنښان {0, 1, ..., 44, 45, 46, ....., 100}

$$P(D) = P(X \le 44) = \underline{\underline{0,136}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې له 45 ځله کم ممبرنښان و غورځول شي 0,136 دی.

: لږ تر لږه 40 ځله او زیات له زیاته 60 ځله ممبرنښان {0, .....,39, 40,..., 60, 61, ....., 100}

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(E)=P(40\le X\le 60)=P(X\le 60)-P(X\le 39)=0,982-0,018=\underline{\underline{0,964}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې لږ تر لږه 40 ځله او زیات له زیاته 60 ځله ممبرنښان وغورځول شي 0,964 دی.

: له 47 ځله زیات ممبرنښان {100 ,..... ,50 ,49 ,48 ,47,.....,0}

$$P(F)=P(X>47)=P(X\ge 48)=P(X\le 100)-P(X\le 47)=1-0,309=\underline{\underline{0,691}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې له 47ځله څخه زیات ممبرنښان وغورځول شي 0,691 دی..

: لږ تر لږه 45 ځله او زیات له زیاته 55 ځله ممبرنښان ,55 ,...,45 ,44,.....,0}
56, ....., 100}

$$P(G)=P(45\le X\le 55)=P(X\le 55)-P(X\le 44)=0,864-0,136=\underline{\underline{0,728}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې لږ تر لږه 45 ځله او زیات له زیاته 55 ځله ممبر نښان وغورځول شي 0,728 دی.

: ټیک 50 ځله ممبرنښان {100 ,..... ,51 ,50 ,49...... ,0}

$$P(H)=P(X=50)=P(X\le 50)-P(X\le 49)=0,540-0,460=\underline{\underline{0,08}}$$
.

د دې لپاره احتمالوالی، چې ټیک 50 ځله ممبرنښان وغورڅول شي 0,08 دی.

دویم – له 60کورنیو څخه کمو کې دوه موټر شتون لري{100 ,... ,60 ,59 ,... ,1 ,0}

$$P(A)=P(X\le 59)=\underline{\underline{0,972}}$$

د دې لپاره احتمالوالی،چې د 60څخه کمو کورنیوکې دوه موټر ي 0,972 دی.

:په ټیک 60 کورنیو کې دوه موټر شتون لري {100 ,..... ,61 ,60 ,59...... ,0}
د دې لپاره احتمالوالی، چې په ټیک شپېته کورنیو دو موټرشتون لري 0,01 دی.

: له څلوېښت کورنیو څخه زیاتو کې دوه موټر شتون لري. ,... ,42 ,41 ,40,.....,0}
100}

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(C)=P(X>40)=P(X\geq 41)=P(X\leq 100)-P(X\leq 40)=1-0{,}028=\underline{\underline{0{,}972}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې په ټیک څلوېښت کورنیو کې دوه موټرشته وي، 0,972 دی.

: لږ تر لږه په څلوېښت کور نیو کې او زیات له زیاته په شپېته کورنیو کې دوه موټره شتون لري.

{0, .....,39, 40,..., 60, 61, ....., 100}

$$P(E)=P(40\leq X\leq 60)=P(X\leq 60)-P(X\leq 39)=0{,}982-0{,}018=\underline{\underline{0{,}964}}$$

د دې لپاره احتمالوالی ، چې لږ ترلږه ۴۰ او زیات له زیاته ۶۰ کورنیو کې دوه شتون لري، 0,964 دی.

دریم - الف – د n=200 او p=0,24 لپاره بېنومیال وېشنه .

ګومان ارزښت:μ=n.p=200.0,24=48

